
Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو لمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قیام الدین « خادم »

دپښتو ټولنې دداٸرة‌المعارف دترجمې دڅانګې مدیر

۱۳۲۵

دکابل

عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! دبهار گـلونه شويدي كه نه دي ؟

«رحمان»

* * *

دسوندك موندك سپلى اخرى كيږي په بلبلو زېرى وكړه : بيا بهاردى

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبـلـبل يا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ بد لی
ستړ ګی وخوره چه به دا ننداره نه کا
(خوشحال)

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زيار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مینانو ته د سوغات په توګه وړاندې کېږي ، هغه ګلونه دي چه پښتنو د پخوا نيو شاعرانو د زړه په وینو روزلي شوي دي .

ښنګه چه تراوسه پوري د پښتو ژبې په ادبياتو کښي داسې يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلي خادم (چه د پښتو يو پيا وړی اديب دی) په دې کارګوتې پوري کړې او بريالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼي چه د دې فاضل د ادستايلو وړ خدمت وستايي اوپه دې انتخاب ده ته تبريك ووايي اوهم په دې ګلونو سره د هغو بردبسانو روح ښاد اوياد کړي چه دوی به د خوازه وطن په بيلتون کښي ويل :

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوی منت ئې تم دی

اوله خدايه غواړي چه داسې ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي .

(عبد الرؤف « بېنوا »)
د پښتو ټولني عمومي مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنگ رنگ تا زه گلونو دسته هغه چانه به مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه به گلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی          دادب دخاوندانو ؛ دزړه وینی

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د لوي ښښتن حمد او ثنا وایو . او دده په هغه لا استائی چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئی ، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصاً د ګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندی هم په دې کښې ده» خومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار ولیکل ؛ چه لنډ له دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لا پاتې دی په فرصت کښې به چاپېږی او د ذوق خاوندانو ته به وړاندی کېږی .

یوله دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعا رو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی ، دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدی . او په ډېر زحمت سره می تری دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو دیوې ، انتخابا تو ته هم نه ده ورته .

او دا له دې کبله چه د پښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . ما دغه روح او دغه اسلوب په نظر کښې نیولی دی ؛ او هغسې مې د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده . او بیا مې دا کتاب لیکلی دی ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه د تهجی تورو یا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نو هر څومره چه دا مجموعه یوه ادبی مجموعه ده ؛ او دا د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغومره د ژوند او زندګی د اسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونو وېشل شویدی چه په هر باب کښې فصلونه دی ؛ او په فصلونو کښې هم ځانته ځانته عنوانونه دی . او د هر عنوان لاندی د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی ؛ او په درنه سترګه به ورته وګوری !

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! — ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې — ټوله ژوی په ځاری کښې
د لته دی د غر و لمنی — زموږ کښږدی دی پکښې پلنی
داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لښ زموږ اور بل دی — وور کور ګی دی، وور بورجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو — د بل چا په مله تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده — د مهر و وده له تا ده
دا پیا لنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بیټ بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غرو هم په دښتو کښې — په لوی سهار په نیموشپو کښې
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښې — یاد وېر ژلیو په شپېلو کښې
ټول ستا دیاد ناري سوري دی!
دستا دمینې ننداری دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی — دبر بڼ خواته په خندا دی
ترنګ چه خړدی په ژړا دی — دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پاسه پاسه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی — یا دسپوږمۍ تندی ورین دی
که غر دی ښکلی پر تمین دی — لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د اپلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسک آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترنګ : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونیږی     دړونه وږمې پکښې چلیږی
بوراوې شا وخوا کړیږی     ستړگی لیدو ته یې هېښیږی

لویه خاونده دا ټوله ته یی
ټل دنړی په ښکلیده یی

خاونده! ښکلی ستا جمال دی     ښکاره یې لوریه لور کمال دی
کهورځ کهشپه کهپیری کال دی     ستادقدرت کمکی مثال دی

ستا د لور ونو یوه ر ڼا ده
دلته چه جوړه ه تما شا ده

زړه مې داستا دمینی کوردی     سوی دعشق پهسوځندا وردی
رب یی وتاته په هر لوردی     بیلهدې هیڅ دیورك یی پلوردی

ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نهوی دغه نور بر باد دی

پهغرو کښې ستادعشق شپیلکی دی     ددې نړی په عشق سمی دی
کهغټ که ووړ کهپنډه نری دی     ستا د جمال ځری هر شی دی

چهپردنیامې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسك نه مځکه وه تورتم ؤ     تیا ره خیره وه ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس نه نبی آدم ؤ     ستا د جمال سو چه پر تم ؤ

چهشو ښکاره ښکلی دنیاشوه

دپنځ پر لوری یی ر ڼا شوه

زهچهخرگند پردې دنیاشوم     د ښکلی مخ په تما شا شو م
ستا پرجمال باندی شیداشوم     له خپلی ستهی را جلا شو م

په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وگړیو ، ولې «متی» ژاړی     سورې یی اوری غاړې غاړی
خهغواړی، خهوایی، خه باړی     خپل تون او کورو کلی غواړی

چونهی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یی دبڼ په لو ر ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هیښ : حیران ، تون : ځای ، چونهی : بلبل ، بڼ : باغ

الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پروربلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مې نرموبی په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی وچا ته نه کا
چه مې نوی سر کوزی چاته بې ننګلیو
اضطرا ب دحرص مې کړي لهزړه ګی اري
که مې نه فاشوي سرزید و عمرته
خو به گورم د قیامت و ورځو شپوته

په داور کښې دستی(۱) سمند رسازرا
پروانه لره په اور ز ما گداز را
می د عیش په میخانه کښې د مجازرا
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
له دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
قناعت قوی لنگر دد ې جهاز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

چه خپل بر گٹ په آب دچرخ نکرم سر سبز
چه مدام وی په چشمه د آفتاب ولی
چه کباب یې په گرمی ، زما ځیگرشی

د همت علو پشان د کهکشان را
د سحر پشان درست عمر سپین دامان را
دلاله غوندی پهجام مئی جوشان را
کاظم خان «شیدا»

چه بلبل یې و دیدن ته انتظار کا
که مې نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو یې زما نصیب لکه لاله کړه

تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی داغ را
«شمس الدین کاکړ»

په اوبو کښې یې د کاملی گوټ پیدا کړ
په سجود یې مځکې سردی لګولی

ده ور کړی پکښې اورلره مکان دی
هم یې زوړندپهرکوع سره آسمان دی
«عبدالرحمن مهمند»

الله مې رب د ی زه یې مربوب یم
غرق په اوبو کښې کله اوبه وینی

بنده ده یم که خوب نا خوب یم
نعمت یې نه وینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختك»

د د ه په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی

مستی خمار شی خمار مستی شی
هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختك»

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر ترسره پربوځی
چه کشور د افغا نا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

د شبنم په شیر یې عمربوزمان کړې !
د فلك په شیرمې توره د زبان کړې !
دهر بیت مصرع مې زلفې د خوبانکړې !
دا : ساده انشار نګینه درحمان کړې !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرونسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خوموږنتریې په معنی نیوهیږو «خادم»

روښي گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد ع سراج الدين : ر محمد الامین : ن محمد نعیم ۵ اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸۱ : ۴-۲۰-۸

الهي د مينې درد را ... کړم د ل آهو نه سر د را
خلاص کړه ما له بې دردۍ ... له دې هسې د لسر دی
زړه په شان د غنچې را کړه ... آتشې ز ما مينا کړه
«کاظم خان شيدا»

پر هر ځا چه حق ياد نشي ناتمام دی ... پر کاغذ اول دده ثنا م قلم ږده
«دوات لواني»

## ب : داستا ځی په مينه

که رنما ده پيروی د محمد ده ... کنه نشته په جهان بله رنما
«عبدالرحمن مهمند»

ډندې ستر ګې چه دزړه مې برې بينا شوې ... يم پيدېن د محمد آخر زمان خوبس
«عبدالعظيم رانيزی»

توره تاريکی توله لدې جهانه لاړه ... نور د پاك رسول چه په جهان کښې شه پيدا
«ميانعيم متی زی»
ما مختار يکښې مذهب د حنيفه کړ ... چه مختار ؤ خود يه ستورو کښې مهتاب
«پير محمد کاکړ»
راغلم ووجود ته د حبيب له بر کته ... شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار
«پير محمد کاکړ»
توره تاريکی توله له دې جهانه لاړه ... نور د پاك رسول چه په جهان کښې شو پيدا
«ميانعيم متی زی»
په زرګونو انبيا تر دنيا تېر شو ... محمد غوندې بل نه ؤ پيغمبر هيڅ
«دولت»

## ج : عشق ...؟

هسې ښځ ګرځم دا زيړ رخسار له خلقو ... لکه زر چه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی ... کوم طبيب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر ګوره خپل صنم پورې شرميږم ... برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسيږی ... دا خو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د سربښندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سری بیدار کاندې لـه خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردې دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار ندی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردې دسروشونوشیرینی وی
درحمان په عاشقی کښې سترګې وشوې

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
څوک چه وایی عاشق ږوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس لـه خاصیته منـز ه دی

کاردستر ګو به څوک څرنګ په دهانکا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کیښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمانه

چه عاشق لره همدر د او همدوا شوه
د مر غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړشی

چه دیـار لـه داغه آه کاهغه ګر م دی
«خوشحـال ختـك»

زه تر عشق جار پېژم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دیاره تفحص راپسی مکړه

واړه عشق یکـار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پری نه پوهېږم عشق یوڅه سوزو ګداز دی
پلار ته وایه نشي عشق یو هسی مخفی راز دی
« خوشحـال ختك »

عاشقـان دعشق له کاره انکـارنه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې اری غلا
« خوشحـال ختك »

ځینی هـوس کـامینـه پـه باغ لـری
داد واړه ګرو هـه بوالهـو سـان دی

څوك می پـر ستـه حب دا یـاغ لـری
عـاشقـان مینه دزړه په داغ لری
« عبدالقـادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بار کښې

دخپل ځان په سودو زیـان نه یم هر ګـز
« عبد الحمید مهمند »

که هر څـومې تندتېزه تـوسن دعقـل

عـاقبت شوپـه دنبـال دمینـی پـا تـی
« میـا نعیم متی زی »

دعشق یوسبق کـافی دی

نور ددرست جهـان دفتر هیـڅ
« صدرخان ختك »

عـاشـق ګرم او شوقـی وی
چه دعشق پـه لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیتـه
خالی نه دی لـه تهمتـه
« دولت لوانی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې
چه تمام دعشق په اور وسو متین شو
«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی
«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شیدا شو
دعرب په مینه گوره چه عجم مری
«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی
ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاځی
«مرزا حنان»

په هرداغ می دخپل زړه هسې باوردی
چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ
«عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی
«عبدالعظیم رانیزی»

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم
عشق را هسې کړم هم نرم هم لطیف
آئینې غوندې هر ولی هرنا ولی
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف
«شمس الدین کاکړ»

هریو زړه چه شی پیدا غه یکار نه دی
چه بی مهره شی برات هغه باطل دی
«مرزا حنان»

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې
په سراب دځان مشغول کړ، له دریابه
هغه چاری چه دعشق په جذبه کیږی
کله کیږی په لښکرو په افواج
«خواجه محمد بنگښ»

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی رفیقه، بی پناه ځم، پناه نه لرم بی عشقه
هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم
ځکړم چاو ته فریاد کړم، نیکخواه نه لرم بی عشقه
مدام غوښې د زړه خورمه، دزړه وینی به تل څښمه
ځکړم ځکړم چرته ځمه، همراه نه لرم بی عشقه
معتقد یدا خپل رزق یم، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم، یو گاه نه لرم بی عشقه
دافقیر دولت نفی یم، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم، گناه نه لرم بې عشقه
«دولت لوانی»

عشق دی دا که یو فساد دی نه پوهیږم
په جهان کښې چه داشورو شرپیداشه
پیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه
«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



باد شاهانو که قصرو نه کړه آباد ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسې یادېږی لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاد دی چه به نه دی بل دا هسې پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد

« عبدالرحمان مهمند »

د رحمان شراب له عشقه نه انګور (۲) نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا

« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو کل ستر ګی په نم کښې عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې

« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
د ښنګک او د بلبل ترمینځ حیران یم مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسې رنګ مقام باندی قائم کړم چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
د رحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

« عبدالرحمان مهمند »

خود څر ګندوی لکه صبح په جهان کښې هر ګېروان چه په یارئ کښې دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی هر کلام چه له رحما نه شنیده شی

« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق

« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه پو هېد لی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی لز د عشق له لاری مه بیا یه بهر کج

« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ

« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی نا صحه! دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی

« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی په دی ناوې نه جوړېږی پسول د چا

« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی، د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی یاعاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ژ غورې سرومال په عاشقی کښې عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یې کسب عاشقی ده د دلبرو نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له درده خبر نه شول براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که اور دی دا په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یې زه له بله غمه په امان کړم دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې لیونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد بنکلیو دیا ولیو شرنګها ر دی یا د عشق د لیونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په لاره گران دی دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یې رهبر پیر کامل دی عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی بانديې شوی هغه زړونه گویا کانی د بیدیا دی
« ملا جمعه »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلیات

که څوک یار په جهان غواړی یار دی دا
یار دی دا که دجهان سنګار دی دا

خیال دز افوی زما لـه زړه چا پـېـر شو
که تر ګـنجه چا پـېـر شوی مار دی دا

دا جهان دی خدا ی له عشقه پیـدا کـړی
د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا

تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشته
تر همه کـا رونو غـو ره کـار دی دا

بل بـلبـل بـه د ګـل نـوم ا خستـی نـه ؤ
که خبروی چه ګـل نه دی خار دی دا

بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه
بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا

د حباب عمـر دې و ګـو ری چـه څـه دی
که څوک شمار کاندی دعمر شمار دی دا

د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره
ستا په عشق کښې هـسی خوار زار دی دا

« عبد الرحمن مهمند »

چـه یـی و لـید و ستـا حسـن بـېـحسا ب
له دې قصد ه تـاو پیدا شو د آفتـاب

په آرزو یې د نر ګس ستر ګی خلور شو ي
غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب

ستا په غم می دواړه ستر ګې سرې ناغی شوي
که خیمی د ی سیاه پوښې سره طناب

که دې زلفې په مخ پیچ وتاب شوې ښایی
وبښته څه طـا قت لر ی د اور له تاب

در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی
که ستر ګې ورته پورته کړې له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

کـه ساقی تـلخـه یا ده در یا ی شور کـا
د فلـك په جام به مست کـله مخمور کـا

آرا ستـه وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو
زمانه به د ګـل جام څر نـګه نسکور کـا

چه په لاس کښې یی تل چوب لـکه شانه وی
بی افسونه به نیو ل د تور منګور کـا

د لتنګی کـړم لـکـه ګـل بـه خنـدا ور کـه
کـه می بل دصبا باد به خونه او ر کـا

چه په سر یی سبز آسمان زری دستار زدی
اعا قبت یی لـکه شمع بیـا سر تور کـا

لـکه ګـل کـړی ګـران بـا ر تـر دا منـځی
باد دې څه لـکه غبار په کتف سور کـا

« کـاظم خان شیدا»

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کـا
په ژړا به ستر ګی سرې د ګـلو باغ کـا

د حباب غو نـد ې مې ډك بـه آه سرد کړ
څوك زما په ګور به بل څر نګه چرا غ کـا

افرو ختـه یو و ی محـفل بـه شان دشمـع
چه سوخته دبل په کـار کښې خپل دماغ کـا

د ګر دش نـو بت یی هـېـڅ به ما د ا نشی
که سا قی د ز مانې ، فلـك ا یاغ کـا

ز نګـه که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری
دمګس په بال به څر نـګـ استفراغ کـا

« کـاظم خان شیدا»

چـه مـی ولیـد ه ا بـرو بـه مخ دیار کـېـج
له تعظیمه ور ته ز ه شوم په تـلوار کـج

کـږې ورو ځی کوږ با نه کـږې یی ز لفی
منا سب دی له کـږو سره رفتـار کـېـج

مار به دا سبب مـد ام کـمـر فتـا رې کـا
چه یی ولیـد ه دا ستا د زلفو مار کـج

هســې ژړا خـلی اتـر لـه همـنـشینـه      په سبب د کنزې پښې شی‌سم بازار کږ
چه معما رې اول خښتـه کنږه کـښېنږ دی      بیا ترسره پورې ځی هغه دیوار کږ
ژړبه وا چوی بار دار چار پای به خا کښی      که یی یو ځله خوك وځکوی مهار کږ
هیـڅ جواب د پیغـام نـه را ځی دیـار ره      پسی زما شوه تورلیمه په انتظـار کږ
« شمس‌الدین کاکړ »

خوږ ژوندون راپوري هسی کړهجران تریخ      لـکه حال وی پربند یانورد زندان تریخ
نو خطـان چه د عاشق له ژړا بد و دی      پرسبزه باندې نا وخته وی باران تریخ
په وصلت کښی له رقیبـه نـه خـلا صیږم      پرموسم د گـل اوقات شی دباغبان تریخ
می حرام دی په مجلس کښی چه یار نه دی      بی له گـله وبلبل ته شی بوستان تریخ
چه می‌نوم ستا د هجران په ژبه وا خیست      لاتر او سه مې په هغه دی دهان تریخ
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی      داستـا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« د مرزا حنان »

چه مې یار ولیـد په سیمـه د اغیـا رگـه      له غیرته می لیمه شوه په خو نبـار گـه
د غـه حـق د بلبـلا نـو پـه جـا نب دی      خدای دنه کـا مبتگیر کڅ په‌لاله زار گه
پـه امیـد د زلفـو و نښتـم په دام کښی      رو هیلی وم ساده د ل په هندو بار گـه
دديـدن په گـدائی کښې مې نـنـگـی نه شی      د ر و یز گریم د بتا نو په با زار گـه
د وقـا دگـلـو پـا نـی پـکښـې نـشـته      کـاشکی نـه وی زه ددهر په گلذار گه
زه رحمان ئی د فردوس له غمه خلاص کړم      چه په کـلی په کوځه شوم د خپل یار گه
« عبدالرحمن مهمند »

دا تـور خط را غـی پـه مخ د گـلـعذ ار      که غا لب شوه په کشمیر باندی کـفار
سپین رخساریی‌په تورخط کښې هسی‌پټ شو      لـکـه پټـه چـه معنی وی پـه اشعـار
زما نه به یی سپین مخ دا هسی تـور کـا      چـه غرض اری د بل پـه کـا رو بـار
هر کـارسازن‌یه خپل کـار کښی‌درمانده دی      اوبه کـله وډای شی گرخ دخپل رخسار
« شمس الدین کاکړ »

او ښو د فراق دستر گو خواب را خښه یووړ      کور ز ما دصبر د ې سیلاب را خښه یووړ
رنگ په رنگ ژړا کړم لکـه‌نی دیار لغمه      زړه مې په یوه نفس احباب را خښه یووړ
نه مې را برسېره کړ گـوهر دعشق له بحره      زیـات یی لاآرام لـکه حباب را خښه یووړ
تل‌چه‌یی‌هوس کـاندی‌سره لاس وخونریزی‌ته      سرې دهغو ستر گـو قصـاب‌را خښه یو وړ
یوطرف ساقی شو بل طرف شو جـام دمیو      عقـل یی له میـانه پـه شراب را خښه یووړ
وا چولم یـار د جدائی په سره دیگ کښې      روح‌یی‌زمـادځان لـکه گلاب را خښه یووړ
هیـڅ یی نظرونه کړ ز متا و خا کساری ته      زړه مې سـیا چشمو په شتـاب را خښه‌یووړ
سینه‌خوله‌دیارچه‌په‌خواست‌زه‌شمس‌الدین‌غوا‌ړم      خواست دهرې ورځې دمخ آب را خښه یووړ
« شمس‌الدین کاکړ »

زما زړه گوره چا یووړ — په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه دی شو بی ارامه — چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم — زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو — سیلاب د ژړا یووړ
څه بازار چه مې د زړه ؤ — ـسن ستا حسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ — ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم — زړه بېپروا که شهها یووړ
قراری د زړه مې نشته — بیقرار زلفو ستا یووړ
دا تمام عالم ښادی کا — احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افگار ساتم همیش — هسې په سینه کښې گویا مار ساتم همیش
زلفې دي سنبل مخ د گلاب ستر گي نرگس دی — زه باندي باغبان یم دا گلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پر قلب مې پیرزو نه شي — ځکه په ځیگر کښې ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ښزی چه مجلس لره ور دروم — پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس د رخسار چه دي زما په زړه کښې گرزی — زه په خپل ځیگر کښې سورا نگار ساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا — زه په خپل وجود کښې دا بیمار ساتم همیش
ستر گي مي څلور شي ستا پر خوا چه وعده و کړي — زه حنان له غیرو دا ستا لار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط به مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کښې — دا یې غاښ په خوله کښې زیب کا که ژاله شوه په لاله کښې
هسې رنگ سحر و جادو کا په نظر د شهلا ستر گو — نه یې سیال په هند کښې شته دی نه ثاني په بنگاله کښې
لکه ونښلی مرغۍ په سست دام د سلو لومو — هسې زړه پر ښانو زلفو کښې پستم په کشاله کښې
دا زما له غمه شین زړه پکښې خیال د یار دلبو — هسې رنگ زیب و زینت کا لکه مې په شنه پیاله کښې
ما ویل عین گټ گل دی د غنچې په لمن لغښتې — که مي کوت یو گل اندام و پروت په سبزه دوشاله کښې
شکلی مخ کا ولي ناسته، په مجلس د رقیبانو — په جوار د سپو کښې نه وی هیڅ ارام په غزاله کښې
سر تر پایه تیغ د هجر لکه نی سوری سوری کړم — ځکه یم مدام داهسې په فریاد و په ناله کښې
که یار غواړي هومره ژاړه خو درځي عبدالحمیده! — دایه دا چه درمونده شي په دریاب نه په ناله کښې
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسې دیوانه او مجنون چا کړم — له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهیږم چه داهسې چاري څوک کا — لیونی د خپل نگاه په افسون چا کړم
کومي ستر گي کوم بانړه کومه غمزه ده — دوب شهید غوندي په خاک او په خون چا کړم
نوان توفیق چه د فتنو را ځغځه نه ؤ — په فتنې د تورو ستر گو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم — چه دا هسې رنگ زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه د یار په درد و غم کښې شادمان یم — لکه گل دیر پښانۍ په وخت خندان یم
نه زما و بېکسی ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه گنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنگل په میوه پوره — په ویرانه ویرانۍ کښې ابادان یم
پور ښتنه مي د صورت بی عشقه نه دی — څوکیدار په هر نفس د خپل کاروان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه
لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم

د کاملي عقیدې له بېر کتـه
دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم

روښنائی مي په‌طلب کښي شوه حاصله
شپه اوورونح لکه آفتاب په‌لار روان یم

چه صفت دتو رو زلفو د اشنا کړم
بلی ، سر په لو یه لار د هندو ستان یم

بی مینه می هیڅ حال د صورت نشته
لکه بي مال ومتاعه تش د کان یم

دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا
دافلاس په کبل بـو تـی د خزان یـم

دلبرانو ته خاك تر تـلـی لا نـدې
د دي نور جهان په سر لکه اسمان یم

چه دیار پـه دیدن سرو مال ښندمه
خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم

«عبدالرحمان مهمند»

زه‌دیار په‌درو غم کښی‌غرقاب خوښ‌یم
په داور کښي بیطاقته بیتاب خوښ یم

تر دابوچی گفتگوی چه زه یې اورم
په نغمه په ترانه د رباب خوښ یـم

چه دیار دخط وخال ښی پکښي وی
زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم

د ریا تـر نا قـبـو لـه عبا د تـه
دساقی په میومست او خراب خوښ یم

چـه نـه علم نه تسبیح نه تـلا وت وی
له‌دې‌هسې بیداری‌نه په خواب خوښ یم

دطوبی دونی سوری مي خوښ نه دی
ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم

خاموشی که هر څو لـو یه مرتبه ده
زه دیار سره په سوال وخوب خوښ یم

دیار دېرې غمخوری یـم عـاجز کړی
رحمان‌څکه په‌خوردن دشراب خوښ یم

«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه‌یم
هم په دا ښو دبد انو تـو ز لېـمه یـم

له‌هغو مي‌څه اندوه چه‌په خوی اوردی
په‌خپل خوی کښي سوځ اونرم تراوبه یم

چه وماته وزما عیب پښکښ را وړی
ددی هسی یار له خدا یه په غو ښته یم

نور زما دی ، نار زما دنو رو څه دی
دېتنگو‌غوندي مـخ خیر دځان‌په سوه یم

په ایرو یې‌مخ سپېره شی‌چه نفاق کا
آینې غو ندي مخ سپینه تور په زړه یم

چېرې نه وی چه به بل مخ وته گوری
په‌هجران کښي‌خوښ دستر گوپه واته یم

له نور چا کله گله عبد القادر کړم
زه‌خوار کړی خپلو ستر گویم خپل‌زړه یم

«عبدالقادر ختك»

مخ‌دې لکه‌نمر دې‌ورته څیر کـتلی نه‌شم
څکه یې دمدحې تر‌عهدې وتلی نه شم

زړه یې‌راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو
راز پکښي دیار د محبت ساتلی نه شم

اوس‌مي‌په‌معنو کښي ښه مین‌دستر گو کسی
کسی به د خلقو په ویـل ایستلی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې د زنخ په څاه کښېښند لکه يوسف کړم
بند يې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

د خپل يار له مينې هسې ديوانه يم
که يې آهه يې ناڅې بې زغه سوزم
دخال خيال يې ماضعيف لره کافي دی
چه يې خيال ساتم د سرولبو په زړه کښې

په جنت نه يم خوښ هر گز په درد يار مې قسم
زړه مې له نا وعده د وصل هر گز و نه ليده
پر وايه گل ويه خار نه کړم د جنون له فيضه
که مې سرولاړ شی ستا په مينه لا خوشحاله يم زه
تور بخت مې ونه ليده هيڅ ستا د کنا گل شب قدر
ستا د گلگون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

زه چه مين ديار پر مخ يم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړي دعفتی ترميان کړي تېر گلونه
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړي
چه مې زړه وړی په منگوله هغه يار دی زما
که د وصال په هوا را شی يکشتنها دلبره

سپين رخسار دي وای سپين صبا شو قم
د صبا او د بيگا تر منځ حيران يم
سبر پندي څوندي قی کړی کولمې ناست يم
گنجينه شوم ستا د مينې له دو لته
چه ميرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه بوزه لاړ شی صوات له
د ميرا صاحب له جوره قلندر ره !

مغنی گوتې په ځير ز دی په بم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای برهار د ی
ستا د زلفو مار چيچلی نه ر غيږ ی
تا چه مخ ورته ښکاره کړو ليونی شو
هغه را ز د محبت چه پټ له تا د ی
دخوښۍ پياله په لاس کښې نن زما ده

بې يې د زلفينو در سی ختای نسه شم
زړه مې پر واز غواړی ولې الو تلی نه شم
«عبدالقادر خټک»

چه خبر نه په کعبه په بتخانه يم
پر څراغ د مخ يې هغه پروا نه يم
د مېږی په دود قانع په لبز دانه يم
دا په دا مدام د لعلو خزانه يم
« مرزا حنان »

خوښ په لذت يم دخواری په اعتبار مې قسم
په نااميدگی د توري شپې دانتظار مې قسم
په سينه صافه آئينه د نو بهار مې قسم
په تېره تېغ داستاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مېنکو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
گلان کړم هره گړی په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

تماشه بې دياره مخه د گلزار څه کوم
بې له وصاله تش دخواږې خالی اقرار څه کوم
دا که مې قول ديار په لاس دی خپل اختيار څه کوم
نور حسن داره بی له ده دقندهار څه کوم
نور منتونه زه جمعه په د ربار څه کوم
« جمعه بار گزی »

تور کنا گل دي وای تورهشپه د تم
نه پوهېږم چه عمل و کړم په کم
دهجران لاسرمې و کاږی زړه وېم
اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذردی کم
چه ميرا يی همراه نه وی هوس کم
دا يو ، لاړو ، السلام عليکم
« قلندر »

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ريښه پرې ايښودای نشی مرهم هم
په ستا نوبه زيار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر گرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

په لذت دي د سروشړنګو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نغاره دا سي آواز کا
که ناستي ديار کوی په خاورو مومي

د شبنم دا نه که تخم شي د ګلو
چه يې نښه لکه ګل ښه رخسارونه
حال د سوی طالع څه بيان کړم چاته
معطل په ١٤ رضه د شام غريب شي
داسمان په شان يې تيز دفتنو تيغ کړ

پسرلی مې دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاورې په سر اونم
لامې غټوړ ته په تخير کتلی نه وو
لکه د هر پری پيکر هم پري رو وو
يوه ورځ به دا غمز و شي عاشقانه

بې له ياره را ښکاره ژوندون ذبون شو
چه د عشق په مکتب داخل شوم داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه ټوټې کړم
د حسرت ګوتې به غاښ کړی طبيبانو

سور پېزوان د به سروشونډو هسې زېب کا
د سرو تپاك د شهزاده په جبين پروت دی
دواړه ليچې دي وښکلې مصرۍ نورې
ستا له غمه په ځان زړه در حمان سوزي

پارسائي يې د پارسا له لاسه يووړه
چه مې کړې وه توبه له مې خوارۍ
معجزه چه د احياده په دوه لب يې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتې دا يوه مسلماني وه
ماوې زړه به دعشق راز لرم په زړه کښې
چه د زړه صبر ديار له مخه غواړم
که د نور و هوښياری په عشق کښې بس وه دی

د حيات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ په ديدن نشي د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين دی د داغلو
که مې زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزی ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شيدا »

ما لا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هيڅ رنګ په پېر ته نه راځي وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز رو پری وار تېر شو
چه فلاني هم لکه ګرد و غبار تېر شو
« عليخان خټك »

اشتياق مې د زړه مر ګك و ته افزون شو
هلك حيران راته فرهاد دوېم مجنون شو
د مرجان په طور وېنې مې لړون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جيم په قلم ښکلی کاتبانو
شينکی خال دي محاصل په بند يوانو
در پوه بزم سر به پر پکړې د خوارانو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي يې د دانا له لاسه يو وړه
په چشمانو يې زما له لاسه يو وړه
لاس په لاس د مسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يې د هر چا له لاسه يووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه يووړه
محبت مې دا د عالم له لاسه يو وړه
د خوشحال يې لا به خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټك »

ستا د زړه سختي مې سر تر پايه و ليد نه
نو ره دنيا نشته چه څه وه را څخه خلقه
يار مې هغه وخت وي چه په شپه په سره ناست وو
گل چه شگفته شي عندليب باندې ناري كا
تل گونه و هلي هر زمان ساده اهو نه
سري لمبې بې بلي دخوشحال ختك په زړه كړي

سنگ به سينه دوړ كړي ستاله هسې سخته دله
وار په وار مې وانه په دلبرو و ښند له
شمعې به ژړا كړه صراحي به خند پډ له
نشته يو ه ښكلي چه ي و بو لم بد له
ما چه عاشقي كره خود په ما به دا كيد له
سور خت يې اغوستي به دا لاري تېر بدله
«خوشحال ختك»

مست يم مې پرست يم رندي كړمه كړمه كړمه
نور شراب مې وانه تور عالم وته بخښلي
موږ به څښي نه شم زه د ميو مستسقي يم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وايې وماته حال دڅه؟ په هجران كښې
خلق راته وايي رنگ دې ياز يړ شو عاشق شوې
دورد عاشق دادې چه په عشق كښې ملامت وي

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و ي مې محادلي پسې مرمه مرمه مرمه!
تل كه هسې د كې پيالې چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه !
نور خبر دار نه يم په زړه سومه سومه سومه !
هيڅ منكري نكړم خلقه شومه شومه شومه !
ځكه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال ختك»

توره چه تېر يسږي خو گذاره اره كنه !
ولې راته وايي چه په ښكلو نظر مكړه
شيخ دې نو نسخ روزه كا زه به دې كې پيالې اخلم
نا وي چه زما د خولې بوسه اكه دا روده
وينې مې دزړه خوري مگر نور څه لره نه دي
څه ژړا فرياد كړې دشپې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د گيناه غونډې څر گندشي
مې شته چنگ وني شته د خپل يار سره خوشحاله؟

زلفې چه ول ول شي خو خپل ياره لره كنه !
ستر گې چه پيدا دي خو ديدار لره كنه
هر سرې پيدا دي خپل خپل كار لره كنه!
غوا دم دا دارو د زړه پر هار لره كنه !
زړه زما پيدا دې تا خونخواره لره كنه !
نور تلې پيدا دې ښامار لره كنه !
گل دلاله را وړه خپل رخسار لره كنه !
خپل باڅ په لاس كښې څه گلزار لره كنه!
«خوشحال ختك»

اكه مخ زما د يار دې نمر خوهسې وي كنه!
دعالم دېري خبري اور به اور توري لښكر يې
بې دعشق له شور وشره چه هر گز زما له سره
چه يې ريم عمل لاكا چه يې ورك كړي ځان پيده كا
تاوې دروه نوم مې زبر كړه بل سبق له زړه بدر كړه
وهغه تهمې سر كوز دي چه معلوم ورته رموز دي
چه آزاد مرېي ور دروم خپل مراد ور ځني مومي
په يوه زمان ته يار دور شې راشي خو گذاره

اكه زه په عشق كښې زبر يم زبر خو هسې وي كنه!
زړه مې نه خوځي له ځايه غر خو هسې وي كنه!
نه ځي نور څه هر څه دروم سر خو هسې وي كنه!
ورځ دشپه داهسې كر كړم كر خو هسې وي كنه !
تل مې نه يې به خاطر كښې زبر خو هسې وي كنه!
به خبره نه پوهيږي خر خو هسې وي كنه !
به هيڅ نه دي تږي ور خو هسې وي كنه !
دخوشحال خاطر تېر بردې پر خو هسې وي كنه!
«خوشحال ختك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وفا خبر پیدا ران دی بیل خوا دروغ
مگر ځان وسپاری خدای ته په امان شي
هغه یار به زه و کړمی خوا ته غولم
دلبران که هر څو ډیر دی په جهان کښي
چه هم قد لری هم زلفې هم سري شونډي
عشق عاشق لره یو هسي ګلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شي
دا نایان به د رحمان په فال پوهیږی

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ته د سرود مال وهره په ما مکړه
روښنائی می د چشمانو ستا دیدن دی
په جو یبار زما دستر ګو سروته یې
مخ دې بې له خط وخاله هسي زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسی مشغول دی

ګنج وعقل زار شه د عاشق د څاڅکي اوښي
تیغ دیار له لاسه پې مری دعاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کادیو جنت دپاره
ګوره د منصور هسي په دار نه شي رحمانه

په ګلونو اواز ورو کړه بلبله !
عقل وهوښ عزیز تر هر څه بندل نه شي
خدای دې ه کاچیري چوخ بهدې په بېهوشي
ومطرب ته مینا وایي وایه وایه !
صدقه یې هم تر پښو عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نوري
خیال بی د زلفینو لکه مار وربا ندی پروت دی
سل زخمه که وخوری توی به یو څاڅکي پري نه وڅی
خرب به یی بدل په بیداری خوښی پری ویرشی
یار په هوادندی که د زړه مینه پیدا کړی !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایې

دا متاع د زمانې په دکان نشته
ګینه بیل خو اته د هیچا امان نشته
چه یې هیچیر یې منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نیر په جهان نشته
دغه هسې رنګه آفتاب په آسمان نشته
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
دا ته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
وهره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
چه یې هیڅ حاجت په خط وپه خال نشته
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خروار دعقل سه د عشق یوه دانه
هسي لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
سر بښند لی نه شی په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبري مې ستا رنده انه
«عبدالرحمن مهمند»

پر ښیا نه پیږی ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنګه ډیر ګران یې دمل جله!
قدم ورو ږده درا ښیاو په ګل ګله !
دا معنائی پیدا کیږی له قلقله !
څه قدرت لری چه وایی اه دل دله !
«عبدالقادر ختك»

کښلي شی له حورو چه پري ورشی د زړه مینه
مینه که ئې ګوري چه تر هر څه ده شیرینه
نه پریږدی وزړه ته بله مینه چه ور ننځینه
هسی رنګه وچه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز دی چه زړدې لري کوینه
څوږ د لاو چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر ختك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لری گډه
له نور چا به په نور څه لری گله

انگوری ترخه شراب ور اره بویه
میخواران له گبینه لری گله

چه بی تا یي غروم د بل و مخ ته
په دا خوی له ما ټیمه لری گډه

هیخ ایستادي بکښې ونکړتري پر بوت
له تاو که یی مي زړه لری گله

چه جارو مي ستا د در د خاوروکړه
ډېر زما له ما بیا نه لری گله

بد و بدو ته ښکاریږی ښه و ښه ته
ښه له بدو بد له ښه لری گله

ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ
ښا تري ولي یار له ده اری گله

«عبدالقادر ختك»

نندارو لره راځی چه یسی ځو نه
یه اختر به ځلمی جونه کا میلونه

ته به وایی مخ یې گل د پېغمبر شی
چه یې د یه یسه مخ ووهی خالونه

چه په سیل د بهار د گلو کرځی
ځلمی گل به پگړی ږدی په اوربل جونه

ځینی دواړه زلفي د کی کا له گلاو
خوك به غاړه د گلونو کا هارونه

زیړ او سره نمری اغوستی گلرخانو
وا یی سبز و نې د نیول گلونه

چه گلو نه نولوی سندري وایی
شرمنده کا د بلبلو اوازونه

درست صحرا په خوشبوئی سره خرشبوی کا
په هغه ځمکه چه کېږدی قدمونه

چه له سیله را روانه شي د کورته
گل لمن، بلبل یې نیسی آستینونه

چه له هسې ننداره نه ځان ویاسي
شیخه ورك دي شه بیو خته خلوتونه

له لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی
چا به څه کړه اته واړه جنتونه

که اوازدی که لیده د روح خوراك دی
نفسانی دي باندې نکا غرضونه

تېر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی
که ژړا کړي که فرياد کړی که آهونه

«عبدالقادر ختك»

څه افسون دې په ما وکړ پریزاده
چه یودم نه یم خالی د تا له یاده

زړه مي ډك لکه سیند دی شعله بویه
که د زړه په فراد وکړم څوفریاده

بهانه ددي غرض مگر شانه کړي
ته یی لاس ورودي و زلفو ته شمشاده

چه اواز دي د تېښې په کهسار نشته
د شیرینې په طلب لاړي فرهاده

په اسباب کښې مي زړه بند په اسباب ندی
د چمن په قید مر و ده آزاده

مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه
که څه رحم په بلبل کوي صیاده

چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع
د هغه لاري څه نفع ده له زاده

په سختی کله امساك د دولت کېږی
جوهر نه ځی به هیڅ وخت له فولاده

همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی
چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده

«کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیار یم هیڅ حاجت دشراب نشته
اوردعشق مي زړه کباب کړ هیڅ حاجت د کباب نشته

تمام تن مي وچ لرگی شو، رگ مي تار ور باندي پر بوت
زیر وبم اواز تري خېژی هیڅ حاجت درباب نشته

پر پرهار نمکپاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه
حال مې خو دور ته معلوم دی، هیڅ حاجت د جواب نشته

لکه مرغ نیم بسمل یم، تپش کړم په ځمکه باندي
ځان مي ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت د قصاب نشته

«خوشحال شیدا»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر دا آوازمی غوږېږست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پسېلم ګله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی ‎ ‎ ستا د ستر ګو مستی بد ه ده ترمله
ښا یسته د زمانې د نیا پرست وی ‎ ‎ په کو څه کښې یې بلمه کښېږده بې پله
په چغلی مې ستا ؛ په یارمینه زیاتېږی ‎ ‎ څو دې زړه هومره چغلی کوه چغله !
ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خاندہ ‎ ‎ زده کړه دا د صراحی له قلقله
د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی ‎ ‎ او که نه وی خبرجدا نه وی له کله
په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی ‎ ‎ جمعیت مومی خاطر له توکله !
چه ستا مخ ورته حاضروی ګل به ګوری ‎ ‎ دغه ستر ګی دې دخدای نکا بی ګله
د مجلس روښنائی ته یې ته دی استې ‎ ‎ کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه ګله
دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لـد ی پلـه

«عبدالقادر ختك»

سرو که لید ه شی د چمن تازه تازه ‎ ‎ ستا حسن تري وینم ماه من تازه تازه
زلفې دی سنبل دی یا ښامار دی په چمنونو ‎ ‎ یا دوا ړه نافی دی دختن تازه تازه
ګوره ستا له مینې زړه یې ځك دی وینې وینې ‎ ‎ رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه
سازدی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع ‎ ‎ وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

۞ ۞ ۞

زه اول هم دېوانه وَم ، دېوانه یم لا تراوسه ‎ ‎ له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه
له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم ‎ ‎ ددلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه
زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بېګانه وم ‎ ‎ ترخلو ښتو کالو تېرشوم بېګانه یم لا تراوسه
چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم ‎ ‎ تورو ښتو مې د سرسپین شو ، کرانه یم لا تراوسه
چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د تیر هدف شوم ‎ ‎ عام وخاص مې وائه ولی نښانه یم لا تراوسه
تل راضی یې په قضاوم ، هم صابر یې په بلاوم ‎ ‎ عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه یم لا تراوسه
دشیرین دلبر له لاسه ، ما شراب دعشق بې قیاسه ‎ ‎ څوبې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه
دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه هست یم
پـه ازل مې شراب څښلی د ېوانـه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

۞ ۞ ۞

ناست یم ستا له لاسه زړه پا ره سینه افګا ره ‎ ‎ ته له مانه څه غواړې فلکه ستمګا ره
ته یو موش ګیرك یې لایق نه یې د ګلو نو ‎ ‎ ولی بلبلان شړې کمبخته ! له ګلزاره !
یار دې له ما بېل کړ تا څو هیڅ شیادی و نکړه ‎ ‎ وایه څه دې وګټل رقیبه دل آزاره !
یو دې د هجران په تنا ره کښې لو غړن کړم ‎ ‎ بل دې درقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو گل یې خار شي په لمن زما څو خېږي
نه چنه د وفا طمع کوي له سرو قده
غوښ وي قلندر په تیغ د هجر کړې نیا زه!

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پند ونه
زه مې که نادان په لاس کښو مات لکه شیشه شو
او ښې دبا نو په سر چه را شي نه در ښېزي
نه شي څوك سا تلی سره بڅري په گریوان کښې
نه دی چا مو ند لی ښاپېري په دو شالو کښې

چه صبا یې په هر گل باندې طواف کا
د پتنگ په دود د ځان په سو ورضا یم
همیشه د گل په بوی زه شمس الدین ځم
میل نکا را ته باز د یار د ستر گو

څوښي له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وایي چه زحمت دي لاد وا دی
سر دي په جهان کښې د همه وا دو ښا دیو
لوس بهاه دي ورو سته دخپل یار په غم اخته شم
غیم دې له از اه په نصیب د عا شقا نو
ما عبدا لقا در چه دا غزل د فراق و وې

یو غوا ډم له یا ره ښه دید ن تا زه تا زه
ځکه بلبلا ن چغا ر کوي په تا زه گلو
یو زمان له مد حې د د لبرو مه د ر ښېزه
ز ډه چه در قیب ز ما په بد سره ښه کېږ ی
آه کوي له د له په فر یا د له زیر گلمه
بل فکر مې نه کېږ ی بې ستا له گفتگو یه
مه کړ ه په جفا سره از ار د بلبلا نو
ستر گې مې خیره شوي چه ولاړ یې زه دې گورم
ز ډ ه د یو نس چوی ستا د هجر له سختی

سیر د گلو نو چه کوم یې له خپل یاره
سرو به هیڅا لید اې نه وی میوه داره
مه کوه میرا ! نوره جفا درب دیا ره !
« قلندر »

وا ډه بېفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
نه شي څوك ایښو دای وښیښو ته پیوندونه
ندی چا بند کړی په گیا سره سیندونه
ومې سول یاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلند ره ! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

زه هوس د هغه باغ لرم له شو قه
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل یار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

نه کړم به گل مینه دخزان له غمه زه
لا به چه یې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم بېغمه د جانا ن له غمه زه
ډېر به زډه زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صیږم یو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القا در خټك »

بل در قیبا نو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام گل وي نه چمن تازه تازه
تل دیاره وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه گفتن تازه تازه
شیر شکري وایه له دهن تازه تازه
شه خو به وفا کړه انجمن تازه تازه
و کړه به دا لوری آمدن تازه تازه
شه خو به خېل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه مې و لیدل په سترګو واده ښکلې
چه تر واده لا تېرې ګا جمال ستادی

د دنیا په مخ به ډېر وی ښه مخونه
چه تر هر څه ډېر لذت ګا وصال ستادی

د واده زلفې د حلقه کړې اکه لو مې
چه دانه دی په دالومه کښې خال ستادی

دواړه ښې ګلګونې سرې په د ماغ درو مې
ګوره بیا څو مره وګړې پا یمال ستادی

ته کشتن د غمزی کړه مه و درېږه
مقتولا نو قبول کړې وبال ستادی

که همه دخلقو ښکلې سره تول شی
خسته زړه مې په تولی کښې لېوال ستادی

چه دې څوك په کو څه تېر شی نور مین شی
چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی

که مثال د صورت غوا ړې ګوره میا شت ته
چه پوره د دوه هفتو شی مثال ستادی

چه صبا بېګا یې لو ند لرم په اوښو
یادګاری را څخه پاتې رو مال ستادی

څور یبار در سره نه بیا یې دو ړاندې
چه په چم به یې تېرېږی محال ستادی

که په قهر یې شړې په لطف یې بولې
چه یې نه پرېږدې په هیڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال خټك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی
قدې سرو صنوبر دری واړه یو دی

حاجت نه لرم په شهد و په شکر و
لب دیار شهد و شکر دری واړه یو دی

که بی یا ره په بستر د پا سه پروت یم
نارو خارو دا بستر دری واړه یو دی

چه و دراو و د هو ارته یې نظر کړم
باغ بوستان اودغه در دری واړه یو دی

چه غبا ر یې د کو څې را با ندې را شی
دا غبار مشك وعنبر دری واړه یو دی

خدای دیار له هجره هیڅوك خبر مکړه
تاخت وقتل و دا خبر دری واړه یو دی

هغه دم چه سړی د رومی له جهانه
توری خاوری سیم وزر دری واړه یو دی

قلندر که په رښتیا قلندری کا
خان سلطان او قلندر دری واړه یو دی

په د کان د نا بینا ؤ جوهر یا نو
خر مهری لعل و ګوهر دری واړه یو دی

دا پیران دې عار زما له عشقه نکا
پاك عشق پیر و پدر دری واړه یو دی

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور وپښور دری واړه یو دی

غزا و شوه که خان ستا ئی ورحما ن ته
بی هنر وګاو خر دری واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د په چند نې باندې ښا مار دی
توری زلفې دی سنبل دنو بهار دی

توری سترګې دې هو سئی دی خطا شوی
چه و څرو ته پرتې په سنبل زار دی

توری ورېځې دې لیندې باندې غشی
عاشقان یې زخمی شوی په ګذار دی

مصفا تنندی دې ښه دی تر بلو ره
پیدا لان یې په سرونو خریدار دی

د غه خال چه دې دورو څو په پیو ند دی
دخطا دملك اصلی نافې ترې جاردی

سینه پوزه دې غو ټې د زنبق ده
چه چاپیر ترې نور ګلونه د ګلزار دی

ښنا ګوښ د نسترن دی غوړېدلی
د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی

سینه خو له که دې غنچې سره نسبت کړم
د غنچې غو ټې کله شکر بار دی

دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سر و لعلو
سپین غا ښو نه بې بها در شهوار دی

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی
چه خوږه یې تر ښاتو نه بسیار دی

صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه
سیم اسا اوږي دې هم په دغه شمار دی

واړه تن دې د حلب تر ښیښې صاف دی
چه را زونه دد رون تري نمودار دی

سپینې لېچې دې ښکلې مصری توری
چه خو نونه یې په غاړه سل هزار دی

د یاقوتو نیکڼې دې سره نوکونه
ځای په ځای دي په اوږو باندې قرار دی

چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلک په لبذت ډك خوازه انار دی

د نامه غوټی دې گل ده د گلابو
کیږ اوښی د گلو پاڼې پرې انبار دی

د نامه نښکته دم و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی

د پنډیو تر صفت دې نه ږ سپېنږم
ولې سپینې په سپینو الی تر چهتار دی

سپینې پښې دې د ز نبق د گلو پاڼې
دیښو گوتې دې گلو نه دا نار دی

تمام قد دې په مثال د صنوبر و نه
در پېده یې سم په مثل د چینار دی

سر تر پا په ننداره بې ځان دې جوړ کړ
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی

ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
د لو بیا دانه یوه مټر خروار دی

نه خو ډېر مهر کوی عمر دې ډېر ښه
دخوشحال خټك دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال خټك »

عاشقی را باندې سوری کړې مریء
هیڅ مې نه د رومی بې باره تر مری‌ء

څه اثر به یې د عقل وی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېني ښا پېری‌ء

د مژگانو په پنجه مې زړه وکاږی
خدای د تر کو مستې ستر گې کړې مرزی‌ء

علو فه به یې بېغمه نور څه نه وی
هر چه کاندې دخو باڼو چا کری‌ء

لښ د صبر سبق مالره هم را کړی
که په عشق کښې څوك دغه طاقت اری‌ء

خدایه څه دې د کوټوال په لاس کښې ور کړم
شپه او ورځ مې غښ وی لکه تو ری‌ء

په صورت مې نری تبه شوه ولاړه
تاچه دواړه ستر گې تورې کړې نری‌ء

د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
چه بند ی شوم د هجران په کچری‌ء

نور د شمعی په فانوس کله پټېږی
تاچه واغوستې دخیال جامې نری‌ء

زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چه یې ملاوې د ویښته په دود نری‌ء

« عبدالرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی
بیابه تاخت کابه کوم غولی وار دچا دی

چه زړه سوی یې د حرم په صید هم نشی
دا بید رده بیصر فې گز ار دچا دی

ما خو نه دی څوك پیو جهی ازار کړی
دا چه ماازار وی ازار دچا دی

چه یې درست جهان د مخ په رڼا ز یست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی

چه بلبل یې ر سپېدی تر گلو نه شی
دا دننه په حرم گلزار دچا دی

چه هیڅ ترس په زړه کښې نه اری رحمانه
دا نا ترس اوبې پروا گزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یې سر خم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی

که دې مخ په زلفو پټ دی باك یې نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی

ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام، شفق او صبحدم دی

په دهن کښې دې غاښو نه تجلی کا
یاغوټۍ چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس ز ما زړه غوځ ستاپه غمزودی
چاره، غوښې له قد یم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه گوري سیاچشمه
د نرگسو غوړ یده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې ز حمته
ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له بر کته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دی
«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنگ بدیم ښکلیه! ځاروڵی له ما کړې
چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړې
یو ځله بیا راشه په گلونو گذر وکړه!
ای د صبا باده! چه بیا نغښتې غنچې وا کړې
گل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه
سرې دې له فراقه لاله سترگې ږړدا کړې
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی گله!
ته په دا خوبی هم دده ناره رسوا کړې
لاخوشبویی ورکا چه یې واچوی واورته
زه به ښا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانو ښکلی لکه ستوری
گل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې
«عبدالقادر خټك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانی
خورم شراب د مینې د کې د کې پیمانې
قدر د بلبل چه یاتی نه شو په گلزار کښې
جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو سترگو در راوښو واړل په خاورو
نه یې وساتلې په پنبه کښې دردانې
هر ساعت چه دمه کا سنگار د یار د زلفو
وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو
ورکې شه بیخایه د پښتون د بری ستانې
تل مې لیونی عوندی ځوك نه پرېږدی وکورته
ځای رالره نشته یې د یار له امتانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه
څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرگ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی
شپه ورځ یې تر لی دی په گوتو نښانې
«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنگ لیدلی دی
د زړه رخت مې په عشق رنگ لیدلی دی
اوس له ویرې په کوڅه ورتلی نه شم
ما د مستو سترگو جنگ لیدلی دی
غم و ښکلې توری راغی که مې پرېږدی
ما خلاصی د ستا ترخنگ لیدلی دی
ما بېگا شپه د یار مخ لید لکه شمعه
دا خپل ځان مې پری پتنگ لیدلی دی
دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی
چه خپل حال یې ډېر بد رنگ لیدلی دی
«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننگ لری کوی
تش دیدن د ښکلیو د زړه زنگ لری کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم
کله سپی غماز له یاره څنگ لری کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بی ننگ دی
ځکه هر ملنگ له ځانه ننگ لری کوی
خدای په دوا د کونوهغه ړوند په نور لیمه کړه
ځوك چه ستا له شمعی ما پتنگ لری کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه یې پوهېږم
سپی غماز له دره ما په جنگ لری کوی
بس کړه ای ناصحه! تورځیگر را باندې مه خوره
کله مست بنگی له ځانه بنگ لری کوی
بل شغل می نشته په زړه بې دیار له مخه
عشق پوهیږي رنگ دی چه بل رنگ لری کوی
«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
ګوره دا په ځان خونی تورمار لره وردرومی
مرم د خدای د یاره په شتاب شتاب رادرومه
چېری هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومی
ځم د یار په لوری په هواهوس خوښی کړم
ذوق کاندې بلبلې چه ګلذار لره وردرومی
هر څوك چه طلب کا پته نده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومی
«خوشحال خټك»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی
ښکلې غاښ دې مرغلرې ندی څه دی
چه تسخیر په تورو سترګو کا د زړونو
سیه چشمې سحر ګرې ندی څه دی
چه د زلفو په زنځیر یې زړری بند کړل
هوسی سترګې زړو روړې ندی څه دی
چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
ښېښتنې په قامت سترې ندی څه دی
وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی
«خوشحال خټك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر یږی
سترګې د ښو په درانه بارنه زهیر ښږی
څو کبر لویې ده و خوبانو خدای ورکړی
هیچېری بی زړه په عاشق خوارنه زهیر ښږی
څه شو که ترې سلسله ځار ښږی په ساعت کښې
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ښږی
ښه رنګ یې بدرنګ کا چه پری واوزی پوخته
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ښږی
ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نو آموزته
هرچه مدام می خوری په خمارنه زهیر ښږی
زردی چه خبر په شی د سترو له احواله
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ښږی
سرغواړه له خدایه خولی ډېری دی فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ښږی
«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی
عالم وایی عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی
کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی
که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی
چه ځوان وم دایم زوړ شوم په ربتیار ښتیاخبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی
شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی
که نورپه صهبامست دی زه خوشحال په خرابات کښې
مستی یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی
«خوشحال خټك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې
اندرون ګوګل می درست دو ښو ډك شو
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې
بیا دې نوی پرها رو نه په ما روغ کړه
لړغونی مې لا روغ ندی ځینې ځینې
په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه
څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې
زه دې درست له باغه وا پستم دلبره
تورزاغان پکښې مېوې خوری خوړینې خوړینې
تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
د واړه ګلو ښتی دی دمښکو چینې چینې
خماری سترګې دې د واړه شنه زمری دی
د خوا جه محمد و مرګ ته ودینې ودینې
خوا جه محمد بنګښ »

نه به څوك بې نا چاري وطن پرېږدي
که ستا مخ یو زلی وو یني په ستر ګو
د یوسف غوندې به خو ځنې بېرون کا
که دې ولید ی سرې شو نه ی جو هر یا نو
که د لبر په دا ښا یست لاړ شي چمن ته

نه به روح هرګز په خو ښه بدن پرېږدي
بت پرست به نور سجود دو شن پرېږدي
که د زنې چاته زلفې رسن پرېږدي
په یا قوت پسې به تله د یمن پرېږدي
د خو لئي دعوی به ګل دچمن پرېږدي
« کامګار »

چه یوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې!
داخوی زما قدیم دی څه ماوس ندی راوړی
د خلقو تهمت یوسر دجهان غم نه بل سر
دا اور چه په ما بل دی دخپل یار له جدائی
اشنا ته وایه نشي نا اشنا به څه خبر یږی
ناوك یې دمژګانو دابرو په کمال جوړ کړ

که درسته دنیا ستا شي هم څه نده دا تر پورې
چه بې دزیبا مخه راته خس دی چار ې نورې
هم ته به مې لعهسې رنګه سختي بلا ژغورې!
نه ګرم نه ملامت یم که تل وینې ژاړم تورې
دا راز چه لامانه دی او رید لی خپلی مورې
خدای زړه چه به دچا ترزړګی وزی پورې وورې

ښه باز دې دخوشحال خټك خاطر په لاسو کبوت
په قدر ی خبر شه چېرې نه په لښزی پلو رې!
« خوشحال خټك »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ږدې
د عشق اور مې و بلوی د زړګی شمع
مادې خیال ار ه فرش کړی تور لیمه دی
په شپه حال د مهجورانو په یاد راوړه

دا زما پر زړه دا غونه آتشین ږدې
بیهوده مې پر موم نقش دنګین ږدې
ته بې نیا زه قدم ولې پر زمین ږدې
په راحت چه سر له نازه پر بالین ږدې
« پیر محمد کاکړ »

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع ګانې

### (۱) ـ مخ:

بادیې لاس په پلو کښېښږدی سره ریږدی

ګل یې مخ وته نظر کا خوله پرېږدي
« خوشحال خټك »

دپریې ښکلی جوه مالیدلی دی په ستر ګو
زور دغاښو مکړه مخ یې صاف تر آئینې دی
عمر به یې لنډ شی که ئې تار دزلفو کم شی

ږوند شم که به تا غوندې په حسن بله وه
زخم به پرې وشی په ورو وروېې ښکلوه
فهم کړه ای دمی! زمنځ ورو وروچلوه
« عبدالقادر خټك »

ای چه په مخ و ړ ې خو ئې له ور ده
ته بې آ سیبه بهی ، سیب او سی

خالی یو دم نه یم د ستا له در ده
که تر نار نج مې څهر ده زر ده
« عبدالقادر خټك »

که مخ دې نمر کړم د نمر کړه وړه نشته

که یې سنبل کړم سنبل مشکین ندی
«عبدالقادر خټك»

د پر هوس لرم د ا ستا د مخ و ګل ته

زه بلبل پرې الوته کړم که بد نه وړې
«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو

تور زلفې غلافونه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو
له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم

که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خو له نیو لی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه

که لاله گل دی پر خپې و هلی
که لعل و در دی سره پیېلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کتل ته موړ نشوم

نور به څو پردې نا بوده دنیا و یا ډم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه !

په درست باغ کښې یو نسرین هسې نری !
«خوشحال ختک»

مخ وته یې گوره چه په مخ لری خال او نه

څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډی او زنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی
څوک یې چه ښکل کا سوځ د هغو دی

خوا ږه دې لا د کنځلو زبات دی
شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت ځنی روان شی
په نازکو شونډو یار د پانو مه زده

که پاره مې د نافی په دود تېتر کړې
خدای چه شونډې سرې بې پانو در ته در کړې
«عبدالقادر ختک»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده

څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی

دواړه زیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوک و وینی د استاذ نخ پر آب

زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم

په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډی چه ځائی د پانو سرې دی

هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو ابو د شپې خملم

هر سحر څا څی ځما تر بستر و یننی
«عبدالله پوپلزی»

## (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو يو د خولې اخلي    ګويا اخلي د ياغيانو قلنګونه
څوک مايوس څوک په اميد ديار دوصل    څوک پراته غاړه غړۍ په پالنګونه
زه خوشحال د آهو چشم مينې سر ګرم    د غرڅه غوندې په هسې ګړسګونه
«خوشحال خټک»

چه د يدن دمين و کړ مه تازه شم    لکه کښت چه په باران سره اوبه شي
په ارمان د هغه وخت يم د ريغه د ريغه    که د زنې سبب يې بيا زما په خوله شي
«خوشحال خټک»

څوک چه زور مه ښکاره کا وزيا تيږي    که پخپله بوسه را کا زور به نشي
«خوشحال خټک»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی    چه په هود مې سپينه خوله غوادي ختکه
«خوشحال خټک»

څو مې ياد دهغې خولې دمچې خوند دی    نور مې کل له د له هر دی تلذذ
«خوشحال خټک»

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده    که يې ته په بها پيرې زه يې پلورم
«خوشحال خټک»

په رښتيا رما ته و وايه طبيبه!    چه د رنځ به يې صحت وي که به نه وي
سپينه خوله که بې رېباره وز پيشکش کړم    په خوشحال به مې منت وي که به نه وي
«خوشحال خټک»

دادې هغه اوچه په هجران کښې پسې ته مري    اوس يې په وصال کښې دواړه اوريه ښکلوه
«خوشحال خټک»

دصبا باده! ګزر په چمن بيا کړه    په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه وا کړه
زه خوشحال کمزوری نه يم چه به ډار کړم    په شکار ناري وهم چه خوله يې را کړه
«خوشحال خټک»

زده مې تخمخ کېږي دسپين مخ وښکلول ته    لاس يې لړ بر کيږي دزلفينو ونيول ته
زه چه لځنې سوال دبوسې و کړم راته خاندي    يا به زده راضي ده يا پروانه کاوي ته
«مطيع الله پيرخيل»

چه يې تل دمخ ثنا وايي خوشحاله    په صله مې سپينه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټک»

دبوسې وعده دايم صبا برات کا    زده به څو کاندي تازه په دا وينا کښې؟
«اشرف خان هجري»

بيا حانت يه سپينه خوله شوم د خو با نو    قسمو نه مې نا صح ګنل عبث
«ميا نعيم متي زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه    په څو زو يې د حلوا نشته غرض
« يونس »

که هر ار لحله شيخي کوي خوشحاله    که ښه ښکلې درنژدې شي نو يې ښکل کړه
«خوشحال خټک»

## ٤ ـ ستر گی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر گي
هسی یري غو څیږم وایی توري لری ستر گي
یار مي په ښایست کښي بی نظیره بی ماندی دی
لا په درست صورت کښي د پر مشهوری لری ستر گي
ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستاله مخه هوري دوري لري ستر گي
هرچیرته چه ته یی هغه اورته مي نظر دی
هرچرته چه زاني شاهین هوري لري ستر گي
« خوشحال ختك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ
قدم نښ دی په رکاب زما د ستر گو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی مي د ښو کړه تري چاپیره
گوندي خیال د یار په ستر گو کښي حصار کړم
« عبدالقادر ختك »

ځکه ما دعشق په تېر ځان شهید کړ
چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
مرگ ځي دژرند زما پوښته له مړاوو ستر گو
په رسا گذار یو هیښی د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کښی وروځی کوږ بانه چه دي را یاد شی
کاږه غشی مي تر زړه لوښی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا
یري به غوڅ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر گو دمژ گانو په پنجو کښي
دی لکه تنزری په چنگ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر گو په تعریف کښي
نه ده کمه شاعری له اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو دیار بیماري ستر گي خدای خوني کړي
گنه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر گو فتوی در کړه چه مي وژ ني
حیرانی ده پر دالو ستو د مکتب ستا
و کوثر ته حاجت نه لری د ښپلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لباب ستا
« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی بی خبر نه یم
دا د ستر گو باز مي بیا راځی وښکار ته
« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښي مه وندی نشی
عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر ختك »

بی د یار له مړاوو ستر گو چه کج گوری
گنه نکا رنځورا چاته جواب سخت
څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهی گلونه (۵۲۵) – سردار محمد، ج سراج الدین، ر فتح محمد، ن محمد نعیم، ه اجرانه پښتو ټولنه ۱۱-۱۰ – ۴۲۵

## ۵- غاښ

په آرزو دسپینې خولې یې په بوستان کښې
نرګس پیاس پر سر نیولی ده پیاله
چه یې و لید . خندا د سپینو غاښو
له شبنمه لمن ډکه کړه . لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غاښو یې خرم وم
وا قف نشوم د هجران د شب له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

## ۶- غوږ اوپوزه :

در په غوږ کښې د مهرویو هسې زیب کا
لکه بر یښی په سحار کښې ستار ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نګی په غوږ کښې
کو اکب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوږ وتی مقصو د مو می لښتی ده
چه له یوزي یې مراد مومی لونګ دی
« خوشحال خټک »

سپینه یوز ه دی غوټۍ د زنبق ده
چه چاپیر تري نور ګلونه د ګلدار دی
« خوشحال خټک »

## ۷- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لری خالونه
څه عجب زیبا دی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د استاد وروځو په نور خال یم
کافر څه رنګ سجده کاندي په محراب کښې
ګل ده پری باریکی په شبنم خوړ شی
نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دي په سرولیو هسي زیب کا
لکه مهر یه مخ و ن د د ر مر جا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شني کا
زړه مي شین شو ستا دشنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبری یکښې نه وی
د عشا ق یکدا ر د ا ترا نه نه د ه
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ږ د ي
دا زما په زړه دا غونه آ تشین ږ دي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو
هم محراب دی ، هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه می ځکه په سل ژبو گفتگوی کړی    چه شانه وهی په زلفو د نګار لاس
«عبدالله یوسفزی»

په لښکر د تورو زلفو یی تالا کړم    خدای دې نه کا چا کمان کفر د چا
«میا نعیم متی زی»

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې    زر عونه کړه تر سنبل او سره گلاب
«میا نعیم متی زی»

زانګی پکښې زړونه د عاشقو سره په ویښو    ته چه چیری کیښږدی سره گلونه په اوربل
«میا نعیم متی زی»

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره    چه په څه ښائی تاوېږی وایمان ته
«خوشحال ختک»

که څوک وایی چه مار کله په کټ خیږی    زه خو ورته لیدلی یم په کټ د زلفو مار
«عبدالرحمان مهمند»

که اره لکه شانه شم پری نه یی ږدم    که د تورو زلفو تار په لاس را کښیوت
«مرزا حنان»

توری زلفی دی په لیچو باندی زانګی    ښامار ان دی دچندنو په ښاخو نه
«خوشحال ختک»

دار بل یې هر یو تار یی زړو نه بند دی    مشاطه ور باندی نور یسی په تارو
«خوشحال ختک»

که د دینن حج اکبر کوی تلوار راوکه    چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
«صدیق آخند زاده»

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی    په زړه خو له لګوی مار د تورو زلفو
«عبدالرحمان مهمند»

رحمان ستا په مخ بی خنمو وهم مین دی    بیهوده می د ورته کښیښنو دام په څه
«عبدالرحمان مهمند»

دک می دننه لړمون په اور شو    زړه سپند ورد ی پکښی یی کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنګ دی    له بخته خو بی یم چه بخت می تور شو
«عبدالقادر ختک»

په لیده یی پیچ و تاب شم نه پوهیږم    څه بلا ده د شوخ چشمو په کاکل کښی
تر حلقو د زلفو مخ ئی معلومیږی    که گلاب راته ښکاره شو په سنبل کښی
«مرزا حنان»

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم    چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
«پیر محمد کاکړ»

خو دیته خو دی یی کله زلفی په مخ زانګی    واړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښی
«پیر محمد کاکړ»

خیال د زلفو یې د زړه نه جدا کیږی
دې کېږي یو ښځې پټیږي شي تور حجاب
« عبد الله یو پلزی »

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی
چه په ما دی نظر وشو په خندا شوی
«خوشحال ختک»

کله کله په خپل قهر کښی مسیږی
لکه څوک چه په هندو بار کښی دینداری کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دښنا مه سره زیب کا
قدر ژیات لری تر خه چه شی شراب
« میرزا حنان »

## ۱۰ـ لاس:

د اختما د قاتل لاس دی نه یو هینرم
که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبری زده په سرو منګو لوړی
چه لیرمیو ن د وینو د کښې دی د حنا
« شمس الدین کاکړ »

سره نو کان دی د سرو ګلو په څیر زیب کا
د واړه لاس چه دی رنګ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱ـ حسن:

ته په دا حسن د ګل غوندی پیدا یی
یو ری مور که ښا پیرئی یی راوړی
« خوشحال ختک »

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان یم
چه جر که دعا شقانو وی پرښد ه
عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له ګرمه خو په
لکه ګل په نمن یت تازه شبنم ورم
« شمس الدین کاکړ »

یو یکښی مخی د ونډ هار د کښلو نښته
کبلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ
یو طرف دي تیک شو بل دی نته پلچار ګل
« شمس الدین کاکړ »

څو بړو نی بی دلبرئی څه په کارنده
لکه ونه بی میوی په پانو پوره
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفی د شته خالونه سره رخسار
ښیښه طوطیان دی سره ګلونه تور ښامار
«یونس»

## ۱۲ـ جامه او ګانهٔ:

ارغوانی جامی یی واغوستی رحمانه
بیایی جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنګ یی تن معلوم دی
هره ورخ چه جامه واغوندی ګلنار
« مرزا حنان »

نور دشمعی په فانوس کښله پټیږی
تا چه واغوستی دخیال جامی سپری
«عبدالرحمن مهمند »

درسته‌دي اه‌خيل‌غريو واېستم خوشاله    يودغاړي هارمی دګلونو مه‌شلوه
« خو شحا ل ختك »

## وښي

داهلال‌دی چه‌ليدل‌شی په‌شفق کښي    که‌په‌لاس دګل‌اندامی سپين‌وښی‌دی
« دعبدا لرحما ن مهمند »

## ۱۳- عيش، اودعشرت‌سامان:

دنيادار کړه چه نه‌وی ښي دلبري    اوردي پوري ددنيا په‌ملك ومال‌شی
ارمان دادي چه به زه هميشه نه‌وم    هميشه‌به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
دګلونو وخت‌تېرېږی‌ساقی! ګرم‌بی    که دجام په دکولو دي اهمال شی

« خو شحال ختك »

❀ ❀ ❀

ساقی ! پورته شه‌دميو جام تيار کړه    عمرهيڅ معطلی نه کوی‌تلوار کړه
که‌غمخوارغواړي‌په‌غم‌اوپه‌اندوه‌کښي    ښينه دکه د شرا بو اختيا ر کړه
هغه‌خوك دی‌چه‌تهمت پري واپه‌نه‌شي    غوزبه‌هيڅ‌اباندي‌مه‌باسه‌خيل کار کړه

« دعبدالرحمن مهمند »

❀ ❀ ❀

غنچه‌غښوه‌شراب‌ساقی!بيابه‌ارمان کړي    عندليب ناري وهی چه‌بهار درومی

« عبدالقادر ختك »

❀ ❀ ❀

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوده    دشرابو سره نقل دخولي مل کړه

« خو شحا ل ختك »

## رباب

په‌آواز مي‌بی دزده پرهار ګانده‌شی    مين ځکه د رباب په زيرو بم يم
« عبدالقادر ختك »

له مزينه زده مي نرم اواز خېژی    ځکه‌خوښ لګه‌رباب په‌زيروبم‌يم
« عبد ا لقا د ر ختك »

باغ دګلو نو ګنج د کتاب وا ی    رودوسرو دو نقلو شرا ب وای
ښې‌ښي محبو بي ښه ښه احباب وای    خو بی د عمر وخت د شباب وی
« خو شحا ل ختك »

## شراب

زمايار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شی    به‌پياله کښي ساقی! می‌تر پوه‌ورو
« عبد القا در ختك »

ګله ! ته چه د بلبلی مخ جار باسی    مګرستاپه‌خيل‌ښايست اميدمدام‌دی
نور چه تل د کي پيالي نشوی ښه‌دی    به‌يوه‌پياله خوشحال‌ختك بدنام‌دی
« خو شحا ل ختك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا گلگون شراب د کومې میخانې دی
چه صوفی یې په جرعه سره مدهوش دی

بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه
د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی
« خوشحال خټک »

د رحمان شراب له عشقه
نه له انگور نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې را سته نا سته
زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی
« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو
وینم یکښې هردم د خوبانو انعکاس
« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی
معطل مه کوه ساقی! په داد ومل شه
« عبدالقادر خټک »

یو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده
دا شراب حقیقی نه اری خمار هیڅ
« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی
چه یې کاږی له انگوره
« شیخ دولت »

ای ساقی د جام په ورکړه سستی مکړه
کاشکې یو هم پاتې نشی هوښیار دریغه
« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

کیږ ر نا د نمر خپره شوه
زما پر کور د وېر تاره شوه

د بیلتون ورځ توره تیاره شوه
غېږ شونا څا په چه بیلتون راغی

زده می له دی وېرنی سین دی
په ژړا ژاړم څه ما ورین دی

زرغون له او ښو می سا دین دی
په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا را شی
نه به تیاره شپه زما رنا شی

نه به شڅی را ته پخلا شی
بیلیږی پیر یی اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړی
آ غلیه مخ چه په یا نه کړی

اور بل دی پر ښو وی وا ته کړی
په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بن کاکړ دی چه د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

وېر می زده سوری سوری کړ
را ته وگوره ملو کی ! !

په بیلتون کښې دې و باسم
له خوږ مینه زړه گی کوګی

را ته وگوره ملو کې !

را ته وگوره ملو کې !

د بلبلتون او رو نه بل دی    هر گړی مې زړ کې سو ځی
لیونی یمه د مینی !    سو ځم زه لکه پیلو ځی
راته و گوره ملو کې !
راته و گوره ملو کې !

غوړ و لی دی اور بل دی    اور زما په زړ گې بل دی
زه د بختیار خاوری ایری شوم    په اور سوی می گو گل دی
راته و گوره ملو کې !
راته و گوره ملو کې !

❀ ❀ ❀    « قطب الدین بختیار »

« متوفی : ۶۳۳ هـ »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری    لکه بازی په تارو یا پهدراج کا
دوه مین چهپه هواد وبله بیل شی    خدای یې څهشکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښې د گو گل پهجوش پیدادی    لکه اور چهله کباپه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا له شسته خیژی    زمانه دخوشحال زړهورتهامج کا

« خوشحال خټك »

کهداستا ستر گې راوجا رباسم ځانته    لهښادیه بهیی نور شا کړم وجهان ته
یوزمانمې که داستالیدل نصیب شی    نوربهستر گې پورتهنکړم گلستان ته
طبیبان دخیل دارو درسره کیږدی    تا و یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه پهما باندې تیریږی ستا پهعشق کښې    خدای دې هسې حال پیښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډیر ژاړم    دوادهستر گېمې پیغور کاوباران ته

« خوشحال خټك »

اوس یې درد د فراقت زغملای نشم    لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ

« پیر محمد کاکړ »

دفراقپهدرد کښېشوق دبوسې څه کړم    خوز شربت پهحال دمر گكدبیمار نښلی

« پیر محمد کاکړ »

مونږ له هواده تنها راغلی یو    دبڼ طوطیان یو ، پهدام و تلی یو
غمازه ظلم را باندې مکړه    د ښو یارانو فراق نشتلی یو

« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر گه خوږ شې په کومې    چهتا ناري کړې دلبرمې دروم‍ی
یومې دلبرځی بل رانه زړه وړی    زړه مې پدا وړی چه دلبر نومی

« اخوند گدا »

دهجران دغم راتله په توره شپهوی    پههر چاورمشه بیوخته مېلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ    پهدریاب کښې نشته نمونځ په تیبا نه

« شمس الدین کاکړ »

وختدنوبهاردیزه جدا لهخپله یاره    دریغهدریغهدریغهچهبییاره ځيبهاره!
ژاړی غاړی غرونه پهاحوال دعاشقانو    سیل دراورو ندیچهرادرومی له کهساره

اوردخوزو زړودی چه‌دغره په‌ونوبل شو    سری ددوزی خېژی له نېتره له چیناره
غوادی چه‌احوال‌دفراق چنودرمعلوم‌شی    گوره هغه زانهي چه جدائی څی له قطاره
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی    راشه که بی اوري در باب له هره تاره
رنځ‌مې نه کمېږی‌په‌زمان زمان‌زیاتېږی    زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره
مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو    خدای‌زو په‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره
څه‌شو که لادم‌وهی په شماردی دژوندیو    رنځ چه‌لا دو اشی طمع پر مکړه له بیماره
هسې‌خواروزارشوم‌زخوشحال‌په‌عاشقکښې    خپل دی که پردی دی راته‌نه گوری له هاره
« خوشحال ختك »

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغار و نه    دهوا دیاران را یاد زانه‌ی اکثر کا
« عبد القادر ختك »

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم    خپل‌ژوندون‌مې دروغجن کاندی‌چه‌پایم
په‌قد کوږ په‌تن‌ضعیف گوښه‌یولی    په مثال لکه ابر و د دلر بـا یم
« عبد القادر ختك »

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو    په هر مسجد کښې اذان ادا شو
راشه‌چه‌ښکل‌دي کړم‌اوس‌په‌بېلېږو    په ځان زموښږه صبا بلا شو
« عبد القادر ختك »

مین را یاد شو دا ستا له رنگه    که یو د رنگ کښېږي زما تر ځنگه
که اشنا نه‌یی داشنا مثال لري    ځار شم قربان شم تر تا ملنگه!
« عبد القادر ختك »

وخت د سحر شو پر یوتي تلي    له کښېبه لو ریه را و ختلـي
د یار د راغلو وعده شوه تېره    په دېر کتل مې ستړ گي و تلـي
« عبدالقادر ختك »

د مني وخت ؤ وني لېد لي    یو څو بلبلي چه ژړ بدلـي
خواري خسته وي وي‌مې سزایی    چه بی گلو نو ویا ښېد لـي
« عبدالقادر ختك »

ودل‌دهجرپرما شرط‌مکړه په‌عشقکښې    ز هر چا خوړ لی ندی په شرطو نه
« شمس الدین کاکړ »

دزړه‌ویښتی‌مي په کومه‌درشتي‌خوري    هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی
بېلتانه‌مي‌هډوپوست‌هسي‌وچ کلک‌کړه    دیار لاس مي په وهل دخنجر خوږ شی
« شمس الدین کاکړ »

د هند بـا را نه آ هسته و وره!    یار مسافر دی د ربېره یې ژ څوره
د سا یی گل ؤ په نازلوی شوی    و تلی نه دی هر ګز له کوره
« شمس الدین کاکړ »

د هجران له دېره غمه ولي نه مرم    له دي هسي رنگه ماتمه ولي نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږی    د دي دهر له ستمه ولي نه مرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه په هر سحر زما به ژړا خاندی
له دې هسې صبحدمه و لې نه ورم
چه‌یه‌لښه گرمی شا کاندي وگل ته
له دې بېوفا شبنمه و لې نه مرم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه‌په‌شپه‌دجدائی
درسته‌شپه‌بخو به‌دامان ستوری شمېری
« خوشحال ختك »

## کاغذ

مخ يې سپين ورق خالونه توری په کاغذ
سرو مال په نداعاشقان ېلوری په کاغذ
دادی تماما د محبت کمال طور و ته
يار له جدا ئی چه يار ژغوری په کاغذ
ته‌که‌نه‌رادرومې گاهی گاهی‌په‌خطیارکره
نيم ملاقات و ينم ستا له لوری په کاغذ
مه کوه ناترسه د جفا ستم را باندې
کله کله ياد کړه خيل‌غمخوری په کاغذ
وران به هرگز نه شی کښلی توری‌له‌ازله
هرزمانې که سترگې د چا اوری په کاغذ
ستوری د طالع هم له جبينه معلو مېږی
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
مه گوره بی خط قلندره د يار مخ ته
بی تورونه ندېږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلندر »

## ١٦ — ژړا

که گريوان مې‌دسپوږمې‌دنمرمشرق شی
زه چه يار په سترگو نه‌وينم تورتم وی
درحمان خندا په اجـر دژړا ده
تازگی د گـل پـه قـدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبر به ی لـه حالـه شفـق بـولی
که دوينـو پـه ژړلـو کړم اسمان دوب
« عبدالرحمان مهمند »

بی دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی
که په وينو کړم برجونـه د آسمان دوب
« شمس الدين کاکړ »

زه دشمعې پـه څېر ژاړم تر صباحـه
تـه د صبح پـه شان خاندې لـه‌غروره
« شمس الدين کاکړ »

لـه ژړامی شوه تازه دزړه داغونـه
لـکـه تل چـه شبنم اوری پـر وښـو
حما ديـار پـه زړه کښ جوروستم نشتـه
در وی ئی سپی رقـيب را تـه پرېښـو
« شمس الدين کاکړ »

پـه سحـر ژړا ديمنـی نشا نـه ده
بـلبلانو پـر ې لـوولـی گـواهـی ده
کـه فرياد پـه زورمنـکړم‌زړه‌مې‌چوی
کـه‌پـه زوره ناري کړ مـه رسوائی ده
« مطيع الله پير خيل »

هرسحر سترگې د گـل له اوښوډ کی
پـه دابـاغ کښ ئی ژړلـو خنـدا نشته
« عبدالقادرختـك »

روهي گلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردار محمد ؛ ح محمد علي خان ؛ ر عبدالغني ؛ ن رجب علي ؛ ه اجرائيه پښتو ټولنه تاريخ ٧ - ١١ - ٣٢٥

۱۷ ـ اوښکي :

څه اثر به زما او ښي په تا کاندي

هومره او ښي مي بهيږي په رخسار
په گريوان مي تل داوښو باران وري

خدای پيدا کړم لکه اوښکي په ماتم کښ

يا کوم ستر گی په اوښو ديار مخ ته

په ناولی مخ ديدن دښکلو نشی

له حسرته خپلو او ښکو برسر يودم

دا ورك زړه غوادم په او ښويسي تحفلم

لا تازه شي او ر په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

چه غرقاب مي هم گريوان دی هم کنار
نه ورکيږي درحمان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

څکه برخه مې ژړا شوه له السته
« شمس الدين کاکړ »

ناروا دی په قران وهل خپچن لاس
« مطيع الله پيرخيل »

چه څواوند نشي د اوښو په باران مخ
« پير محمد کاکړ »
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »
زخمی ښکار په پسل دوينو پيدا کيږي
« مرزا حنان »

۱۸ ـ غم :

غم دي هسي غلبه شو په ما باندي
له زگيروی ئه مي نور خلق په عذاب شوه
زه دستا په غم کښ شمعي غوندي ژاړم
زړه مي ستا په اوری هسی او بزان دی
ما دي ستا دانه پښو په غم کښ سوي
داد ستور دی چه لوی غم په سړی ورشی
هرچه ما په نصيحت له تا جار باسی
سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کی

هسي زه يمه ديار په غم تازه
ستر گی وخورم که نې وچي کړم له نمه
زه به څه کړم دچا چاري بې دياره
ديار نوی نوی غم زيږوی و صل
که دي زړه له غمه وچوی دلگير مه شه
ښايسته يار ان گلونه دی رحمانه !

چه مي څای شی نه دننه نه د باندي
تل دوچو له کبله سوزی تاندي
ته زما په غم کښ صبح غرندي خاندي
لکه زلفي دي په مخ دی او بزا ندي
ددنيا اند پښني واړه لکه سپاندي
نور غمونه ئی همه شی تر پښولا ندي
بيا دي ستا په لوری درومی له ماوړاندي
مخ ديار په رحمان هسي چاري کاندي
« عبدالرحمان مهمند »
لکه وی هره گياه په نسم تازه
که مي شی په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رغوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بيلتا نه کړه اکثر مړا وی کسم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره
قسمت هسې لهښا دلیو کناره کړم
« عبدالقادر ختك »

تل مطیع الله ځکه سرور په دود غمې کا
دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښاد نوی
« مطیع الله پیر خیل »

غم دیار مې په خاطر کښې محکم پیا موند
په کعبه کښې مې صیاد د حرم پیا موند
« پیر محمد کاکړ »

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښی
د کالا پیا نوی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
پسر چمن نه دی خاطر فراغه
کفن ئې رنګ کړ د زړه په وینو
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زماز دی هغه پری سوځی
ځکه مې حیران شوو علاج و ته طبیت
« پیر محمد کاکړ »

## ۱۹ ــ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښې
هرڅوك زړی کوډی په مخکښې د باڼېز
« شمس الدین کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
ګنې زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
بی هنره سپی رقیب هلته څه غوښت
که ویار ته رسېدای شوی په هنر څوك
« شمس الدین کاکړ »

د رقیب وسرته وزی تېزی ناست یم
پری بر ئې تېزدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مافبول د رقیب ناز کړ ستا دپاره
سودا و زیان پدا جهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۲۰ ــ جفا :

ستاد عشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
هم په داچه نوشته په جګر خون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له میو
چه ئې خاوری د فرهاد و د مجنون دی
د دنیا چاری همه وا ړه فانی دی
داد ستا جورو جفاو لی افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
در جمان د زړه خوناب مګر قبول شو
چه مخونه د دلبرو پری ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم دوفا طمعه
کتوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې پیاله تورو ستر ګو سره جنګه دی
پر لبانو ئې د زړه د وینو رنګه دی
که پر هګری سر په لاس ورلره راشم
لا په دائی باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تیمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه گانې

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پاڼې
ښې دې دې دزر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به ستر گو کړې خوږونه
ژبه دې شکرې ده د ننه په زړه پاڼې
هیڅ پری نه یو هیڅوم دا دې زنه که ښه ده
خال دې دی په زنه که دانه ده د هما نې
« خوشحال خټك »

کنده ولی د دوا ړو ستر گو ستا په طمعه
وهر لور ته می نیولی کو ر په کور دی
چه می خیال د تر کوو لید و په زړه کښې
دوا ړه کسی می و زړه و ته نسکور دی
« عبد الرحمان مهمند »

مایه خوا ست وزاری خوله له یاره غو ښته
ده په ناز لکه غنچه سره و نغښته
شه خوحال زما تر غو ږه د یار ورو ړه
چه مدام ککا پرتا خواب د ناز با لښته
محبو با پر پا لنگ و ا و ښته په خوب کښې
که هو سئی ده د بهار پر گلو ر غښته
ثمره د بد فر زند ښکنځل د پلار دی
پیدا مشه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدین کاکړ »

چه له غنچه د گلرخ مې اغیار کښېښنا ست
په چشمانو کښې مې گل غوندې خار کښېښناست
« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پسر سبزه د چمن ر ا م شو
یا پر تخت د زمرد شهر یار کښېښنا ست
« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنگ وجدل کاباندې څه شوه
پر گلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد کاکړ »

کومیه له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل گل
کومیوله دوه ؤښه دی تور گیسو که سنبل گل
« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د گلبدن گر بوا ن پاره شو
د غنچې له چا که ر نگ د گل ښکاره شو
« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط را غی پر مخ د گلعذ ار
که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خا طر یوړ
زړ غو نه به مې لاله شی له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الېلونه شماری
پکښې پراته دی هزاران زړونه بلبلی صنم
« میانعیم متی زی »

گو تې تورې کړې په بای کړې دا پورې
زه حیران یم ستا د سپینو گو تو تور ته
« خوا جه محمد بنگښ »

زه درپسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع
ته صباخندان لکه گل واز گریوان دچاپی
« علیخان خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون ئې د تدرو ، دربده ئې دی د سرو — ببر کوی به پلپو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختک »

تماشا چه زه د خپل دا غونو تل کړم — هم گلشن هم لاله زار به لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا درستبه شپه ر فتن کړم — دشبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، رنگ گهر بازده لکه لعل — جنس مې دہر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالی کړ د زړه غولی — میلمانه لره تیار شی سرای دستور دی
« مرزا حنان »

چه دې خیال په خاطر را شی مضطرب شم — لکه پېښ چه د مفلس کره مېمان شی
« مرزا حنان »

چه تاوو یدنم تازه غزل انشا کړم — پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خوشحال ختک »

پر خپل ځای باندې ولاړ یم لکه شمع — ترغزل پورې رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی — شمعه بله شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بارکزی »

آفرین دې په ول ول تورو سنبلو — چه ئې ځای د پاسه وینو په گلو
« خوشحال ختک »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېنې — رنځ د هجر به شی د غم د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی — د بانو په ستنې ستاد یو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ۱ ـ اخلاق

که درنگ خوبی ئې ستایې بودیې نشته          په جهان کښ که باقی دی خواخلاق دی
« خوشحال ختک »

په خو یونو کښ ډېر فرق دی          که سړی پر ې خبردار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا          چه خپل هم ځینې و بېزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا          چه پر دی ئې خد متګار شی
که څوك خپل خصلت ښه کا          تر سرو زرو به ګران بیدار شی
« خوشحال ختک »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بویه          صفت د مرد شی له نیکه خویه
اصل به نه کا ستا ښه هیڅ هیڅېږي          د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر ختک »

چه ګل همت ئې خوراك لباس وی          په تحقیق هغه ارذال الناس وی
شر ف په خوی دی په دیانت دی          که څوك شریف وی یا څوك کناس وی
« عبدالقادر ختک »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی          بد خصلت سړی یادیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته !          بې هنر سړی که وګوري لاشی دی
« خوشحال ختک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی          په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه دځان کړل          نور د ګل په خبری پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره
هغه څوك چه اخلاقی وی
که دچا اخلاق ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی
چه پوره کی ښه اخلاق
په خویو انسان انسان دی
مکارم انسانیت دی

له ګڼلو تراند تېره
د هغه نوم به باقی وی
د هغه به ژوند ښه نه وی
پیغمبر دی پا څېدلی
او پر ځای کی دا میثاق
که نه وی خوتش حیوان دی
رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پرې سره ځمکه سره پنډه شی
په نسب که خان ، نواب قاضی قضات وی

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

رب دې مه کړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله
« احمد گل لامی »

د عالم تولی په خلق په احسان شی
« خوشحال خټك »

۲ - په ځان باور « او » همت :
چه فلك سره سر باسی
کړه ئې ندی بی حکمته

به همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده به کړه یم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور درومی یکسر ننگیالیان
په لمبو باندې ځان ولې پتنگان!
د کنجکو قدر یو ، د در ویل د ی
ننگیالو سره څه ژوی بی ننگان
ار تگی د زړه دلیل د جنتی د ه
د دوزخ دا ور لایق د ی دل تنگان
د باد شاه په سلطنت پورې خندا کا
په سپهر و ایرو لړ لمی ملنگان!
نور ماهی ئې تار په تار درومی له مخې
ما تو ی لو اې بېړ ی، نهنگان
دهاتی دپاسه سپور ورته پیکه وی
چه د میو پیالې آخلی سر هنگان
څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر ها ر ژ اې پلنگا ن
« خوشحال خټك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم
نه چه والې ئې خوراك هغه مېږك یم
که عالم راته کل تا وکاغم مې نښته
په رښتیا ویل د دېرو بو لیو لك یم
په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر گردان لکه پتك یم
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
که د ی زر ، د هغو واړو بهترك یم
چه منصب مې د مغل خوړ یو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه مې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه په درو لاړ د هر یو ه مردك یم
نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر د سند نه د دستك یم
هر گیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم
پښتانه لره شړیء اندېښ مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص دغمه د زر بفت اود میلك یم
د وښو جونگړې هسې راته ښې شوې
وایی ناست په محلونو د آهك یم
که او گره د بټو شته په شړو مېو سپینه
د مغولو پلاو پاتې دېر پرې دك یم
چه نیولی مې داهوډ د ننگ ونام دی
که له خپلو هوده وا وډم کنیزك یم
په بل غشی تو پك هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپك یم
چه شهپر مې پتی خیل وو کنډ کیرشول
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك یم
د کریز بڼې مې تونې لکه باز کړې
گمان مه مکړه چه بی پرو ښا پیرك یم
تف په زیره د همه وا ړو بسار کو
لا زما په زیره هم که زه بارك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دوارو پښتنو را ته تسلیم دی
زه خو بیا د سبا کی انا خشتك یم

نن خو قامرا سره ډېره جفا و کړه
کانده بیا د خدای وحکم و ته خك یم

که څه حق یا دنیکی یا دورروری شته
و یا داش وته په طمع د هر یك یم

مهمندی زما د کډی لاس او پښې دی
راضی من دافرید یو په کو مك یم

ډېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی
چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم

کر لانی خړ بنی خو چه پښتانه دی
زه د ننګه په کار دواړو مشترك یم

که مې عمر په شماره تر شپیته تېر دی
لا په کار د سواری لکه از بك یم

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم

« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده
تر هغه چه نا هموار لکه خا را یم

تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم
خو ش په طور دمك بې دست وپا یم

« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس وخاشاك په خپل گردن زده
حو صله دي په مثال د لوی دریا کړه

« کاظم خان شیدا »

راته یو د ی بحرو بر
که څه سمه وی که غر

په همت به ئې تسخیر کړم
په شا ها نه شا ن وفر

« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه
دون همت اندېښنه مکړه بله بله

« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په خوله کښې ور کا
خدای دي نه کا چه عارف پکښې غارت شی

« خوشحال خټك »

څه هغه شهباز شه چه دي ځای په سردرو وی
نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دښ کړه

« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله
که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی

« خوشحال خټك »

سردې درومی مال دې درومی پت دنه ځی
د سړ ی د چارې کل خو بی په پت ده

چه یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندي
په جها ن کښې لو یه بخر ه د همت ده

« خو شحال خټك »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیابی په ښکته
یا عیسی اره وردرو مه یاقا رون ته ځان سپاره

د نباتو حلوامه خوره چه منت ورسره مل وی
خپل کشکاب دخپل محنت خوره په سر راوېده پشتاره

« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه زیست چه د عزت له مخه نه وی
چه یې کابه هغه زیست پورې هکې پکې یم

اوریې پوری په منصب په نوکری شه
چه تر فهم و تر نظر د مغل کسکې یم

په خپل نام و ننګ چه را شم لېونی شم / خبر دار کله په سود او زیان دلکې یم
چه په طمع د اوږ و ز غلی و شست ته ! / ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمکې یم
تر قضا پورې د هېچا چاره نشته ! / او کنه تر زاڼه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی / نه چه ګرځی ګونګټ نیسی باد خورکې یم

« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا خټک ته

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره د باز غوندی پرواز کا / بیا به وانی د خوشحال خټک پرښته

« خوشحال خټک »

ساقی جام د میو مه پر ښږده له لاسه / خو د عقل څه زده وی لا به مست کښې
د بلند همت کښې پورته پورته درومی / ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښې

« خوشحال خټک »

چه همت د سړی څو قدری هومره / د آمیز په تله هر سړی تلله شی
د وطن سړی هغه بلبلی بویه / چه له سینده نی جدا د چا واله شی

« خوشحال خټک »

توره پښتونخواه په ځای میشته ده / خو یو زه دی زمانی په کښې منصور کړم
که یی درست د متو زور راته ښکاره کړه / نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می جار وتلی تر دوه پښو دی / مګر لوی پاچاو پیداشی چه یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی / بویه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل اومي باور شته اثر به وکا ! / رقیبان به اور لړونی د تنور کړم
یو دوه سړی مارمی بروت په دواړو پښو دی / په دیدن یی له نشاطه نه نفور کړم

« خوشحال خټک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه / چه محتاج د خیاط نه شی پیرهن ته

« کاظم خان شیدا »

د باښی د باز نصیب شوی تازه غوښی / دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کندی

« مطیع الله »

وزی تېزی بروت په خپل پوز کی ښه نی / نه په تخت د پاسه ناست د بل کره
دمنت پو لا ودې زهر شه که نی مومې / د محنت سوی سکرك د ساګی سره

« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی به لوی دریاب کښې ګرزه / په بیله کښې دې زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور با ندی کښېږدي / تر خراغ چه کیږ وښی ګرځی پتنګه
هغه یار که یه پا لنګ را سره نشته / دا هم شکر چه نی بوی ځی له پالنګه
دغمزي په تیغ نی خوږ ښه نی خوشحاله / مړ نی به روغ صورت نه ځی له جنګه

« خوشحال خټک »

که غوټۍ پسې وهي په لاس به در شي
چا وی دا چه په دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې ډېر دی حکمتونه
خو صباء به نه شي ز لمیه ظفر نشته
څه عجب باد شاهي لکه خور شید کړم
یکه تنها په جهان کړز م لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی
که علاج لره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

را شه گوره نامردان بلا و هلي
د ډېرې میدان پر پېښو دی لړي تې زغلي
د آسمان د پاسه گنبت نندار ه نکاه
کوز د ځمکې د تلي په مینځ کښې هلي
مړ هغه چه ئې نوم نه یې نښان شته
تل تر تله په ژوندون پاتې ښاغلي
خوك به خپل پټي کړل کا د اغزي و
چا په خپل پټي کښو نه دی کرلي
پسینه کړ نه هو مره فائده نکا
چه په وخت کړ نه و کا پر آخلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی
رنج و گنج سره دا دوا ړه دی ترلي
« خوشحال خټک »

بنسیاد د چارې په مصلحت د ی
بیا د مړ د انو په شه همت د ی
چه سره یو شي دا دواړه نو که
واړه دولت دی حرمت عزت د ی
« خوشحال خټک »

مړ دان هغه دی چه همتنا کښو ی
دننگ په کار کښې چست و چالاك وی
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض گڼي
په زړه هم پاك وی په خو له هم پاکوی
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سرخرو گرزم
څه منت به دد و نا نو د ډیار کړم
چه په واژه خوله موندونه شي مه یې وینم
که صدف غوندي حاصل در شهوار کړم
« عبدا لقادر »

که دمځکي غوندي کوز به تواضع یم
په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې دپیوس دی ځان باز مکړه
ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر لري نه
په ورو چار وهیخ کله کټه نکاندې لوی چاري
« عبدالقادر »

مړ د ان هغه د ی چه همتنا ك و ی
په هره چار کښې چست و چالاك وی
چه غم پېرې را شي پروا دغم نه کا
خواږه له هر چا په زیست وژوا ك وی
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتا ب ندی گرم رو یه
ستا په سر کی یه سایه دهما خو ښ یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کا ډېر په هسکوا او
لکه موج نکړمه بېم له پر پو تلو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته
ه زړ دم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ـ امید :

د شپې خپتن دې سحر ته ګوري
هیڅوک دې طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مشه یکلخته

دا دستور دی چه شپه و لوېږي په څنګه

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

هر ګره ګره کشا لري نیکبخته

٤ عزم او توکل :

د هوښیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې خرڅ خوري پروایې نکړم

نرسي تر یاره هرچه د برې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده د بلبلو
د زړه راز و چا ته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا یو ه ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

٥ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستي وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دي په هر لوري
څو طلب هومره موندل دي په دا دور
د عملو خوازه ګله هغه مومي !

غشي چه د پر ولي بېله تیر انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه د بل غوښې خوري مردار دي
د ذري په خیر دلمر په طلب ګرځه
کار په تش لستوني نشي بې د لاسه
چه تقوی د یانت نلري رحما نه

ګوندې پېرې و خېژي د صبا ستوري
باران پسې تنږ و کښتو نو اوري
« خوشحال خټك »

خدای په څنګه کار غوټه د هوا پیښ
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غوته جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

څو د څمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
د هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نوري کیسې پرېږده د عشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال د زماني سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

جمعیت مومي خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

چه و تلې یې د دې خوني له ویشه
په غبنتوني یا ندې نده جفا پیښه
بلکه لا تر طلب بخره مومي بیشه
چه حذر کا د مچې له بده نیشه
« خوشحال خټك »

چه مشق د خط کړي و خط ته ساز شي
ورو، ورو، په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیبزه هسې پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلې منګولې نه کا کیلې     هومره نه‌وی شربې غوښې ورته ټلې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا     چه‌قبول کاندی د بحر خونې چلې
عاشقان چه‌ترس تېرشي هله ښکلې کا     دابرو پسې خولې ځکه چلې
بازچه والوزی له جالې هله ګوری     د کبکانو ښایسته سترګې کجلې
چه داور بځری یاد سره رفیق شي     پیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه‌سیلاب دغره دسره نه روان شي     بساهاله بیایې په‌مخ دبری خټلې
«خوشحال ختک»

* * *

به تحصیل پسې یې ځکه کوشش بویه     خپل هنر له‌لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال ختک»

چه‌توده ترخه قبول لکه دریاب کا     هم هغه د قیمتی د ر و مـاب شـه
چه‌لمبه یې دآتش کره په ځان تیره     لوغه پسه دګلا بو ګل ګلا ب شه
د کمال کسب پـا په دسعا دت ده     هغه ښه چه‌د کمال په اکتساب شـه
نه هـم زده مراد وغواړه لـه عمله     چه‌په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال ختک»

ښادی عم‌غوندي آسانه موندنه‌شي     سور په‌خپلو وینولعل دبدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زرنده‌هله‌څه حاصل کاندې چه ګرزي     بو زمان قراری مکړه لـه طلبه
«عبدالقادر ختک»

له‌آزاره چا بازار مو ند لی ندی     له‌انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مـکړه به خپل‌واربه‌برخه‌درشي     بې‌لهواره چاخپل‌وار موندلی ندی
په‌قصور مطلب موند نه شی‌پسی‌پاسه     له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار، په کار هم کاردی     ناوان‌په‌ځان باندې خالی ګفتاردی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی     ګو تره ګوښه طرطا طرار دی
«عبدالقادر ختک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې     عمل هم ورك شو به مځکه باندې
او س په خبره برول و بل دی     دابیت‌بازی دی‌عالم یې کا ندی
«عبدالقادر ختک»

کله‌به‌لا دروم‌ی‌له‌ماي دسحر خوبه     خوب بیغمه نه کاچه‌په‌مخکښې‌یې منزل دی
عبدالقادر ختک»

چه‌منت په‌ځان‌قبول کانوراحت‌شي     چه عارف د مصیبت شي عافیت شي
«خوشحال ختک»

٦ ـ صبر او استقلال :

غشی چه ډېر ولی ښه تیر اندا ز شي     چه مشق دخط کړي و خط نه ساز شي
ګار د محنت دی د مشقت دی     ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتا ز شي
« خوشحال ختك »

مړ تېي د هر چا نه دی سره ستمي ‌ ‌ دخرد بار د فیل په شا باندې مثقال دی
ته چه لافې د مردانو د میدان کړې ‌ ‌ په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق یې سنز شه پخندانه ‌ ‌ بېچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی

« خوشحال خټک »

د مرد چه صبر چه استقلال نه دی ‌ ‌ چه غم پرې راشي پکښې خوشحال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بوهه ‌ ‌ که یې په جاه ودولت څوك سیال نه وی

« خوشحال خټک »

اضطراب به دې خلاص نه کاله قضاء ‌ ‌ مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه

« عبدالقادر خټک »

په تاکه راشي خدای ته لوی په ‌ ‌ ته پخپله تسلیم صبر ته بوه
ته به یې دفع په صبرو کړې ‌ ‌ نه په لښکر و په زر او زور به

« خوشحالی خټک »

صبر و نیسه په خپل کښې که مراد غواړې ‌ ‌ هیڅا کړی دغه کار په شتاب نه دی

« عبدالرحمن مهمند »

اې حزیانه صبر وکړه مراد به مومې ‌ ‌ د فلك زر نه په وارده پس و پېش

« مرزا حذن »

خلاص به نه شي سرکشان له گوشمالی ‌ ‌ چه فلك به جهان شته دی تلوار مکړه

« کاظم خان شیدا »

دا نا یې مه گڼه چه صبر نه لري ‌ ‌ چه صبر نه لري حکمت به څه لري
سړی د صبر به کار کښي و زمېه ! ‌ ‌ چه صبر ناك وي هر څه به ښه لري

« خوشحال خټک »

صبر ناکو سره جور فلك نه کا ‌ ‌ د فلك جور د چا چه سبکسار و

« خوشحال خټک »

ژوندی که گرځي خان یې ژړلی دی ‌ ‌ تور زن د سر به وینو لړ لی دی
چه صبر نه لري ظفر به نه مومي ‌ ‌ ظفر له صبره سره تړ لی دی

« خوشحال خټک »

شورش مکړه د گردون له کش مکشه ‌ ‌ او مه کلکه کا مرغی له اضطرابه

« اشرف خان هجری »

۷ـ د وخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا ‌ ‌ نن دي وار دی که دروغ کړی که رښتیا
هر څه چار چه تر وخت تېر شي عنقاشي ‌ ‌ عنقا نه نیلي په دام کښي د هیڅا
تر ورځ تېري او به بېرته نه جار وزي ‌ ‌ نه جار وزي تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی ‌ ‌ مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
هره نیه چه صحیح گڼه به زړه کښي ‌ ‌ په غور و ر به عفه نیبه کړی خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه ‌ ‌ چه به دا کښي دې بهبو د دی که بد دا

« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت ېې مه وی

که د ېره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې په بېړی ملاح کا

آبشاره ! و لی دا هسې ژاړې !
که تل فریاد کړې به کانی سروهې !

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه کار د نن ورځې پرېږدې سبا ته

۸ - زړه

شه سړی پردی بې دلاسا په نیکی خپل کا

بو زړه دخوشحال ندی چه جهان بکښې ایده شي

دواړه ټکو نه لکه تن دی
زړه یې چون او پېچکو دی

خودې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مردار دهرې چارې په زړه دی

دماز کول او اطو ار مشکل دی
...م بې نیته گڼل یې هم لا

...برو سو ځه په اور کښې شراب وڅښه

که هزار ځله تقوی په هېز گاری کړې

قلب د دمومن گوره ملقب په عرش الله دی

چه ذړه ...وو د نما نخلو ... پروا وی

و گړی پوه ده کاروونه خپل کا
څو کڅه چه آرام گټی د شکو نام گټی

د هغه عالمو ز ېړې د و ښکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نکړی بې وخته څه شی
په ژانگی چه کښېوزی پورې هاله شی
« عبد القادر خټك »
له چا فریاد کړې خوك بس غواړی
بېسا به را نشی او به نچه لاړ ې
« عبدا لقادر خټك »
چه وخت بې تېرشی افسوس ارمان لری
هو ښیار په نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټك »

کومه شاغلشاده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټك »
دهر چاره زړه مرآت دی صفائي وراره بویه
« خوشحال خټك »
کار د تن جو ړ وی زړه
خوك دا غمو شه گڼی زړه
« خوشحال خټك »
چه زړه دې ژاړی ستر گی ژړا کا
زړه دې مفتی دی هره فتوې کا
« خوشحال خټك »
په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »
در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »
زار ذاز ازجو نو چه دزړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »
تر و که زړه د سړی بوسی څه ېکار
« عبدالرحمن مهمند »
مړدان هغه دی چه کار دېل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

نه سره سم دی و اېده مړو نه ! — نه سره سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکه غرشی — که بیا ندي راشی هزار غمو نه
«خوشحال ختک»

مرهم په زړه‌زده ږه‌ېر هارونه — دا نیا به ګل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منده — یکښ به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی — په‌چا ګرم مه‌شه که‌دي رضاوی
که‌څوک ناحقه اتا پرخاش کا — اند وه ئې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال ختک»

په‌بدن کښې دزړه اهمیت .

زړه په مثل د پادشاه دی — هر اندام د ده سپا دی
ټول د ده فرمان بردار دی — دی یادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یی مسخر دی — د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یی خوله ویل کړی — لاس نیول، سترګی کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده — چه څکو چنو تې یی جته ده
چه وی راست شی راست بدن شی — چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد — تمامی په زړه بنیاد
تمدام اصلاح درزه کړه — په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده — د ګوهر و خزینه ده
ډېر پکښې دی جواهر — قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی — د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یی معرفت دی — زیات ترنورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه — واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده — د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یی ده ساتنه — له جمله‌ؤ غلو رهزنه
چه دشمن یی تالا نه کا — جواهر یی یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی تورمژګان په‌نم‌دزړه — نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبوالهوس ته — څه‌پوهېږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ باندي سوا د یار له مخه — ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یی‌عرش او کرسی لاندي‌ترقدم‌دی — بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوچه — که‌آباد کاڅوك ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ږدی په مځکه — مادی ایښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌دآسمان مځکی‌ترمیان‌دی — یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غواړم بی‌یاره — چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتی همدمان ډېر دی په دنیا کښی — ولې نه مومی رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای د شکر شکایت کړي! منکر بنزی په عطا د سبحان و اي!
در بنیلي خدای ده ری چه رپ توان دی په ده بر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زړه دنفس په پیروی در ځځه لاړو د خبیث په لاس دي ور کړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره! خویو مکړه آ زرده د مسلمان زړه
«عبدالقادر»

مرده دل دي له تره زړه بیرون کا یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوك مړی
جمعیت چه لدنیا په نیا غوا ړی هغه غړی په معنا د شګو پړی
«عبدالقادر»

هر څوك چه یو کازړه خوله خپل دواړه دو یم په نیت شي ثابت له واره
که کمي ورغی په دین د نیا کښې تاوان یي واړه وزما په غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یي سائل نکړي ویره مي کیږي چه یي دبل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی خپل به پرده کړي پردی په خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دځا به کیږي به کړه د عا ګته د عا قبلیږي
ازار د هیچا د ا خستو به دي شپړی د خو ز و زړو نو لګیږي
«خوشحال ختك»

لتو مه ګنج د زړه په ویرانه کښې پر و انګر م د شهر په عسس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بیا ولاړ ښی لکه چیر ته ابشکر دروی د سلطان درست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بدخشان دی بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ
« خواجه محمد بنګښي »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یی مه بو له بیحد ه مشرف دی چه د خدای باندي نظر دی هغه زړه دی
دمکي حج خو موقوف په یوه وخت دی چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یي صفت و کړم څه به و کړم چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحد ه عالي شان دی چه تر ده بر خوږو خوږتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالي به نیشکر ور سره کاندي چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وبل حکم دقاضی دی
چه ظاهر وباطن دواړه یري رو ښان دی
هیڅ اشیا یی لد فتره بیرون نه دی
زه نبی به یی نن کم هنر بیان کړم

چه مقول دخدای په در دی هغه زده دی
چه دا هسي بلند لمر دی هغه زده دی
چه د درست جهان دفتر دی هغه زده دی
چه منبع د هر هنر دی هغه زده دی
« عبدالنبی »

دلجوئی به دي تمام وګړی و کړی

که نه هم د د لجوئی په جستجوی شی
« قلندر »

دایند له مانه په زده کښې یاد کړه
زدو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

خو دي لاس د سي مروت د اد کړه
آز اد بنده کړه بنده آز اد کړه
« عبدالقادر خټك »

## ۹ ـ ژبه

غولا دی تو ره وی که لویه تبه !
دار یی بلا به د ر خخه وا و ړی

تر دا لابه ده بد ګویه ژ به !
ژبه که بده کړي د پند طالبه !
« خوشحال خټك »

یه واك چه نه لری په کام کښې ژبه
په بده ژبه ځان ځی جهان ځی

که ګنګ شی ښه دی په لویه تبه
ایمان لا هم ځی و اوره طالبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مری ده که خوږه ژ به !
هنر هم دادی که دا هنر لري

چه خولا یري خپل کړی زما صاحبه
چار به دي تل وی تر سیال غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر خو ډیر یي تر صحبتو نه
لا به یه ژ به ډیر فهم و کړ ی

علم ادب لري فصاحت و نه
د ژ بي د ډیر دی قباحتو نه
« خوشحال خټك »

ژبه عادت کړه په ښه و یلو
که یی عادت کړي په بد ګوئی

چه دي عادت شی هغه تر تلو
مخ به دي تور کا تر ډیر دو خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه زده چه پکښې تیغ دژبان کښېني
« پیر محمد کاکړ »

په مجلس کښې دمهرویو خکه زاړی

شمعې هم ځکا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یوپلزی »

هر سړي چه شی ګویا لکه قلم

سر به یی شی له تن جدا لکه قلم
« عبدالله یوپلزی »

درست عالم یه داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلې ژ بې په قفس کړه
« خوشحال خټك »

روهی ګلونه (٥٢٥) ب س دار محمد ح - تاج الدین ، محمد امین ، ن رجب علی ، ٥ اجرائیه پښتو ټولنه ١٣٢٦ - ٤٢٥

سلامت کاروان به تیر کړي له رهزنه      که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
« ملا جمعه »

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده      فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو د جمال وانه خیست      پښتو لا هسې بکره پرته ده
« خوشحال ختک »

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده      صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې تحیر کړ ښه پرې خبر شوم      جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
« خوشحال ختک »

جنګ د هاني او مزري آسان دی      د خپلې ژبې آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه      هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی
« خوشحال ختک »

که څوک نیکان دي که څوک بدان دي      بد دنیا کښې چه په هر شان دي
مه یې ستاینه کړه مه یې غندنه      ته به یې څه کړې چه د خپل ځان دي
« خوشحال ختک »

د هوښیارو ژبه پټه وي په زړه کښې      راز به نه وایي اشنا و نا آشنا ته
لنډ او ډېر ویل به نکاندي بې ځایه      هیڅ باطل ویل به نه وایي و چا ته
« خوشحال ختک »

ژبه عادت کړه په ښو خبرو      خبرې ښې دي ښه تر شکرو
د خوند مثال یې شکرې وایم      قدري ډېر دي تر مرغلرو
« عبدالقادر »

لکه وړي له میدان ګوی داخه ژبه      نه یې شي وړلای په تېره کړي شمشیر ګوره
« عبدالحمید مهمند »

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه      فتنې له خولې پاڅي نو خاموشي کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې      بېخوده پر یوزه باده نوشي کړه
« خوشحال ختک »

سخي یې مه ګڼه چه نغ یې خوار نه وي      پاتوري مه بوله چه پرې پرهار نه وي
که دانشمند وي تفسیر یې یاد لولي      چه ډېر ویل کا دي به هوښیار نه وي
« خوشحال ختک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر      دانا تل ځکه په خوله د غه خاتم ږدي
« عبدالقادر ختک »

د میرو میره د خانو خانه      د جهانبانو جان او جهانه
دا رنګ لوی په هاله روزي کړي      که وي نیکنیته او نیک زبانه
« عبدالقادر ختک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری    سیلاب تش لاس دی سیند امن پر لری
دسیلاب گېدو د کانړو ډکه ده    بحر په گېډه کښې قیمتی در لری

«عبدالقادر ختټک»

لهخامی جوش وخروش خېژی لهدېگه    دی له خپلی پختگی پختگان چپ
په ابو بهدې ډیوه شی دمراد بـله    که صدف غوندې پهصبر کړې دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشه‌شی    په کو گـل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو نـارې ښې نـدی پر گلو    چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگـان چپ
لـکه کـاه اوکـهربا چه سره بولی    هسې پټه خوله بلل کـاندې یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کـوه عبدالحمیده!    کهپه ژبه اویزان شې لـکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمانې کـوه عظیمه !    مه له خولې نهځه وبـاسه مهځه وایه

«عبدالعظیم رانړزی»

صافدلان له گفتـگو په خفه کـېږی    شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

١٠ اخلاص:

گـوره څـه بلـنـد مقـام دی د اخـلاص    چـه جهـان واړه غـلام دی داخـلاص
کهله ځمکې نـه اسمان ته‌ځـاته گران‌دی    د اسفـر پـه پـوه گـام دی داخـلاص
چـه خبـر کـا مخلصان لـه علـم غیبـه    داهمـه واړه الهـام دی د اخـلاص
در واج د رسـم عمـر مـدام نـه وی    لـکـه عمـر چـه مـدام دی داخـلاص
بی اخلاصـه حـلاوت د اسـلام نشتـه    که اسـلام دی خو اسلام دی داخلاص
څه‌عجب‌دی کـه‌مستان‌وی تـرې چـاپېره    هرساقی ځځه چه جـام دی د اخـلاص
څه عجب دی که همـایی په دام نښلی    هر صیـاد ځځه چه دام دی د اخـلاص
درحمـان کـلام په داسبب شیرین دی    چه‌یې هر کـلام کلام دی د اخـلاص

« عبـدالرحمـان مهمند »

هرباغی بوزې بنده کـانـدې اخـلاص    هر بـی‌شرم‌شرمنده کـاندې اخـلاص
آب وتـاب‌یی عـالمـگیر لکه افتـاب‌شی    هرجبیـن‌چـه تـابنـده کـاندې‌اخـلاص
هیـڅ پروایـی دحیوان پـه اوبـو نهشی    هغـه زوی‌چـه زنـده کـانـدې اخـلاص
هیڅ مقراض‌یی غوځولی پـه خوله نهشی    هرپیوند چه پـائنـده کـاندې اخلاص
هغـه کـار چـه سحر کر کـانـدې پهسحر    ترهغـه‌یی ځوچنـده کـاندې اخـلاص
سـد لاسـه زوړ کـافر دـلو کـا و    واسلام تـه خواهنده کـا نـدې اخلاص
دنفـاق له اهلـه ځـن ژغوره حمیـده !    پـه‌لبـاس بـه‌دې گـنده کـانـدې اخلاص

« عبـدالحمیـد مهمنـد »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر باغی او هر سرشوخه هربی شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکنوم په عالمګیر لکه افتاب شی — مغه ځوك چه همیشه کاندي اخلاص
دنفاق دشپې تیاره به رڼاورځ کا — چه سحرغوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښولره راتښی ملامت یم — که انسان لهدرنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز په — هوښیار په څه پی و ماته وایه !
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی — خبره نه کا چاته بی ځایه

« خوشحال ختك »

دباد شاهانو په راز خبرمه شه — که یې ري خبرشي ځان ته غاورمه شه
رازیې دزړه په صندوق کښې وساته — په ښکاروول یې چاته لړ برمه شه

« خوشحال ختك »

که چاته وکړي دزړه خبره — تا کبد یې ري و کړي چه وبی نغره
کهدي خپل ځوی وی ګمان پري مکړه — چه به یې نه کا چاته ظاهره

« خوشحال ختك »

که پیځایه زر کې نه وښکی آواز — نه صبا د ځنې خبرو ، نه شهباز
سکه لیه دي خبر پهسي معلومیږی — چه خپل صوت دی هر سړی لره غماز
دمنصور وحال ته ګوره حال ئې څه شو — خدای دې فاش دهیچا نه کاندي پټ راز
دریغه دریغه کهوروستی عقل دومی وای — دانجام خبري نه شی په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولی نه شی — دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایوښتي دیار له حقیقته — ځوك دیار خبري کاندي واغیارته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت دښکلیو عام په وخت دخط شی — کم فوت سړی لههرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای به ځای به ستا دمال حساب کاوه شی — خپل اسباب د کاله مهښیه مزدورته

«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچری په داخبر نه وی — پههرهر کار به یې بیځایه راز وی

« خوشحال ختك »

زړه پیځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشی په کوڅو دخلوت راز

«عبدالله یوبلزی»

منصور راز ظاهراوه سوئی تهوخوت — د خلا خبري کله په ملا شی ؟

« دالپوری حافظ »

۱۲– زر :

اوس په‌دا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه گوري دا گوره
څنگه څه‌چه د آسمان ښایست په‌زردی
شاهزاده بی زرو گوښی تنها گرځی
زور، قوت، حرمت هوري‌ دروم‌ی چه‌زروی
هرمراد چه‌دسړی وی په دنیا کښې

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب د مسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
دهندو سره روان کا اسکندر زر
دپادشاه په‌سر څوك کښېږدی افسر زر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختـك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

څه حاصل که بوعلی شی په قصو !
«خوشحال ختـك»

که‌هر څومشکل کارونه درته‌پیښ شی
ماچه ولیده خوازه دی پد نیا کښې

فکر مکړه چه‌آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
« خوشحال ختك »

که‌پتهوی په‌اوریخ کښې‌هم‌ترمیاشتی امرتېری کا

همه‌عالم خبردی چه‌زر ښه‌دی له‌درمه
« خوشحال ختك»

زردی‌چه ز برمه دننگ وشرم کا
دبر گران کارونه‌په زر آسان‌شی

صحبت د هرچا و بله گرم کا
زر په‌فولاد کښېږدی فولادهم‌نرم کا
«خوشحال ختك»

زردې هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم‌مخدوم کا

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زر په‌سندان کښېږدی سندان‌هم‌موم کا
«خوشحال ختـك»

بادشاهان ښه‌دی په‌ځوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو گو دبر گران دی

ځوانان‌ پرې ښه کا چه‌ورته‌سر ښندی
پوپوی و ښندی نه‌یی هر بو ښندی
« خوشحال ختـك »

زرپه بده ورځ په کار وی
دزر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

هوښیار څکه ساتی زر
د نا دار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختـك»

چاوماته نصیحت کړ چه زر ښه دی
چه‌په گور کښې خزانې لری دزرو
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی
هر سړی چه په‌نام لوی په‌دولت کم‌وی
په‌امثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه
گوره مادهغه څرنگ ځواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بوپه نادانه

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که‌یك تنهادی زوروور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لبند کردی
په‌معنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چه‌سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پرې‌په‌بوه‌شی هر سړی چه‌دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هندوخته انبار انبار مهران وی ‌ ‌ ‌ په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره باندې‌دزروصندق بار کړی ‌ ‌ ‌ خر به‌هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه‌هنر یې دلویې وینویه لاس کښې ‌ ‌ ‌ دهغه وجود پارس شو واړه زردی
«خوشحال ختـك»

څکه‌نوم یې دزهب وربانديې کیښود ‌ ‌ ‌ چه‌دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زړه سخی اری چه مال یې نه‌وی ‌ ‌ ‌ په‌ځان مې ولید څه حـال‌یې نه‌وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری ‌ ‌ ‌ ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال‌یې نه‌وی
«خوشحال ختـك»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کـاندې چه‌یې وینه ‌ ‌ ‌ دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یې اوری ‌ ‌ ‌ ددرهم خـاوندان تلوی په ویاړونه
که‌درهم یې ځنی ورك شو شی نتلی ‌ ‌ ‌ پر ټرئ یې وی په ځړو پېژندونه
که‌بلای سونی(۱)وبولی خلق وایـی ‌ ‌ ‌ داوینـا ده ریښتیاینه له ریښتـو نـه
که‌بې وزلې ووایی ر ښتیـا خبره ‌ ‌ ‌ نور خووایی دخوسونی‌دی تېرونـه
هو، درهم ښندی هرچاله لویـه برخه ‌ ‌ ‌ ددرهم دخـاوند هرځای پرتمونـه

درهم ژبه ده که خوك ژبور کیږی
ده وسله که‌خوك به کـاندې قتـالونه
«ابو محمد هاشم ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ ه»

چه‌نېستگاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی ‌ ‌ ‌ تر تازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوبلزی»

* * *

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا ‌ ‌ ‌ آئینه‌دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال(۲) کـا
پرې کوی ترخپلو پښو لاندې‌بناخونه ‌ ‌ ‌ چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه نهـال کـا
عاقبت هغه سردار شی مردار پـاتی ‌ ‌ ‌ چه‌یې نفس دخپل بدوته لېوال کـا
چه‌دبل‌و سرو مال وتـه هوس کـا ‌ ‌ ‌ ترهغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کـا
هم‌هغه به‌یـکښې پر بوځی دامثل‌دی؛ ‌ ‌ ‌ چه وبل وته کوهی کـنی وبال کـا
دهغو په‌خونه پېښ جنـگ وقتال شی ‌ ‌ ‌ چه‌هوس دچا دجنـگ و دقتـال کـا
چه له خپلو لاس و پښو شی بېمجالـه ‌ ‌ ‌ له‌غلیم‌سره به‌جنـگ‌به کوم مجال کـا
په‌پردو مړانه نه کـیږی بی خـپـلو ‌ ‌ ‌ له‌لحده دااواز جمال‌جلال (۲) کـا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې ‌ ‌ ‌ زمانه به‌یې جمال غوندې پایمال کـا
پردی نجوره هیچـانده خپله کـړې ‌ ‌ ‌ بلـکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال ـ دوه نوموتوته اشارت دی . «خادم»

### ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونسې چندن اګسر دی
خاوري يې واده مشکې و عنبر دی
که سرای ونورو وته سنګبر دی
کاڼي يې ماته واده سره زره دی
« خوشحال ختك »

درزي لا ګزلرې مقراض سوزن لري
بوجمدر ګوتې خو شحال خيرن لري
کوچ يې اسان دی مشکل هيڅ ندی
غم ديارا نو درد د وطن لري
« خو شحال ختك »

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم
چه له ياره په ژړا ژړا جدا شوم
ماهله ماتم دځان وکړ په وينو
چه اتلك وته‌مې شاشو په ژړا شوم
اوس په‌خه دوطن کاڼي بوتی ژاړم
درخصت سلام‌مې کړی تري جدا شوم
بوناوك‌مې په‌دل لاك‌راووړله ګوره
زاروجارمې دباغ ونه‌کړ خطا شوم
په محنت‌مې بورباض جوړ کړې‌دهر
لامې ګل‌بوی کړی نه محنې سواشوم
شين‌فلك په خنداسورشو لهوسه
چه‌هوړی جبل‌په مځزه ورته شاشوم
بوبادو په دکن‌نشبه چه‌مې‌دم کا
ګرفتار په کنج وکاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## د وطن په ياد

ستا دعشق له وينو ډك شو ځيګرونه
ستا په‌لاره کښې بائلي ځلمي سرونه
تاته را شمه زړګی زما فارغ شي
بې له تامې انديښني دزړه مارونه
که هرڅومې ددنيا ملكونه ډيرشي
زماهېر نشي داستا ښکلي باغونه
د ډيلي تخت هيرومه چه راياد کړم
زه د خپلي پښتو نخوا دغرو سرونه
در قيب‌د ژوند متاع به تارپتار کړي
چه په تورو پښتانه کا ګذارونه
د«فريد»د«حميد»(۱) دور به‌يار اشي
چه‌زه وکاندم په هرلوری تاختونه
که‌تمامه دنيايوخوا ته بل خوايی
زما خوښ‌دی ستاخالي تش‌د ګرونه
(احمد شاه بابا)

خوار غريب او بېنوا وای
خو وطنه ! ستا په خوا وای
واته غواړم مه له هنده
چه وطن بېر خه زما وای
خو ژوندی يمه تر مرګه
هم باغه آب و هوا وای
مېشته خو ښ يم په وطن کښې
نه چه هند واړه زما وای
نه دې هند شي نه دې نوم شي
هما غه بيد بيد يا وای
چېر هار کښې کلا شيخ وای
رزق الله او مشغولا وای
« خواجه رزق الله »

بې وطنه نهاپروت يم په‌غربت کښې
نن له ماسره همدم د صنم‌غم دی
دهواداشنا په ستر ګو لېده نشي
که‌په‌خوب‌راته‌حاضرشي بس کرم‌دی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو
سلام بادرا رسوی منت‌يې تم دی
« اشرف خان هجری »

---

( ۱ ) فريد : شيرشاه سوری . حميد : سلطان حميد لودين

پښتني جونه دې زلفې بادنه نيسي — چه شمال يې بوی زاوړي په رنتمبور (۱) کښې
«اشرف خان هجري»

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړي — خو به خيال کړي په اطلسو دفرنګ
«پير محمد کاکړ»

نسيمه ورشه د «سرای» سواد ته — له هغه پسه افضل آباد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه — د رود پوارو ګل و شمشاد ته
«کاظم خان شيدا»

که ګذر به خير ابادو کړي نسيمه! — يادي ګېت وشي د «سرای» دسيند په سيمه
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه — ور سره زما د لوري خو تسليمه
ابا سيند وته ناره وکړه په زوره — و لنډی ته و ينا و وايه حليمه!
ګوندې وی چه پيامې ستاسې جام روزی شی — په ګنګا جمنا به نه وو له قديمه
چه سرې اوبه دغره نشته په هند کښې — ترې توبه که واړه ډک وی له نعيمه
خدايه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړې — داچه اوس ورځني لرې دی دوه نيمه
همېشه به په هند نه اوسی خوشحاله — عاقبت به عاصی ووزی له جحيمه
«خوشحال خټک»

نورجهان سقر شو با دې سرای دارالقرار دی — کله به خوشحال دارالقرار لره ور درومي
«خوشحال خټک»

دخوشحال د زړه خوښي نشي بې سرايه — خپل وطن يې په هر چابا ندې کشمير کړ
«خوشحال خټک»

دهواد ياران مې هر زمان يادېږي — چه ئې مخ په خوب کی ووينم ويادم
«خوشحال خټک»

ښه په هند کښې چنبا ګل دی — تر دا ګل د وطن خار ښه
د سرای قدر نور چا نزده — په خوشحال دی ترفر خار ښه
«خوشحال خټک»

درزی لا ګزلری بيا ئې سوزن لری — په جهدر ګوتې خوشحال خبرن لری
کوچ يې آسان دی مشکل هېڅ ندی — غم ديارا نو درد دوطن لری
«خوشحال خټک»

۱۵ ـ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده — هرچه نه پسندي په ځان په چامه پسنده
چه يې اوس به تولولو نه مرېږي — همداخپل دولت بهو کايه تا شنده
«عبدالقادر خټک»

چه نه پسندي په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان — همداده که ته يې ګوري په صحي مسلماني
نيکانو سره زېست روزګار په مهر و محبت کړه — بدانو سره زېست روزګار هم بويه لساني
«خوشحال خټک»

په قوت به داسلام کړي — د کفار ابنکر غارت
«دولت لواني»

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم نښانه داده که یی و ینسي
چه اول په شریعت دي استوار شی
« مرزا خان انصاری »

په مسلمو کښی خاصه مسلم هغه دی
چه یی وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۶ ـ آزادی :

وهر چاوته چه و گورم فریاد کا!
په جهان به هیڅوك نه وی چه آزادوی
عقل وهوښ یی وړی وته پیدا کړ

چه سری شړومبی یی چښم په وخت داوړی

دحاتم دسخاوت خبري مه کړه

که یی ته په منت مومی وایی مخلمه

دمغل منصب می پرېښودهسي خوښ یم
دانا دره عقیده لکه زما ده !
دمغل وته بههسي کار ښکاره کړم
آزادی تر باد شاهی لاتیری کا

چه نوکری کا څوك دېر گنده کا
تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته

طمع بلاده اصیل بنده کا !
ماده پر لیدلی دی چه طمع نه لری

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

که دعقل څه اثر لري و سرته
په نظر دهغو خاوره سره زر کېږی
بی منته جام دزهرو څکلی ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دی فلك و چاته هیڅ بخښلی نه دی
که له خدایه دوي خلقووته مخ شی
همیشه به در په در گرزی رټلی
ددي سست بدن منت په رحمان باندي

بوزه نه یم د جهان دی سینې خوږي
ځنې عشق اندوه بنده کړه ځنې لوږي
داچیچل داهل دپرانگ دی یادیږي
«خوشحال ختك »
بادشاهی داورنګ زیب زماه غړکه
« خوشحال ختك»
لا به دا کښي هم د طمع نښا نه ده
« خوشحال ختك »
که دچا په باغ کښي بوټی د کیمیاوی
« خوشحال ختك »
اکه خلاص داویه بنده بند یوان شی
لاعجب که بل پیدا هسې افغان شی
چه راضی راځني روح دفریدخان شی
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال ختك»
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
چه څوك په کور کښي خپله دنده کا
« خوشحال ختك »
ښه ښه سړی وی دائی گنده کا
په بادشاهانو پوري خنده کا
«خوشحال ختك»
که خزان را باندي را شی که بهار
«رحمان بابا »
لاس په سرمشه دهر گیدی ودرته
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
وایه حال د زمانې وبرا درته
چه یی نه دی را پیرودی ځنی ښرته
له فردوسه بهدي مخ شی و سقرته
داستو گنځي ځای به بیانه مومی چرته
چه له خپله دره تلی نه شی بل درته
«عبدالرحمن مهمند»

زندګي که څوك پوهېږي حضور دی    آینده و رفته کله دچا یاد وی

« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښی کړم داحمق سړی ده مدحې    نه مې رده مومی اندوه دده له ذمه

دزلفېنو تور حلقو دي عذار و ېنم    که نسرین دي دی په زلفو کښ صنمه

« عبدالقادر »

چه مې شا کړه و ښا دېوو ته ښاد شوم    چې د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم

اوس څه غم نکړم له غمه بې غم ګرزم    راضی من چه دازل دویش په داد شوم

چه مې طمع ددنیا ور ځني نرې کړه    هغه کس که کیکاؤس زه کیقباد شوم

ځان بازبد ولی کاروندیز پد کا    له شیخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم

خدای مې بیا په کښ بندی مکړه تر مرګه    احتیاج عظیم زندان وه ترې آزاد شوم

هم یې ځان له غمه خلاص کړ هم نیکنام شو    دپرمین په وروستنی ضرب دفرهاد شوم

بادی بوی عبدالقا دره سحر راوړ    شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم

« عبدالقادر خټک »

چه خوښ له ګمه دلګیر له خاره دی    عشق له دو بینه بې اعتباره دی

نه شکایت کړم لچا ، نه شکر    در دمی اهیاره در بمان له یاره دی

« عبدالقادر خټك »

له پېخونده آزا دی شو سه دسر وې    د ګنی پخیر پخو بنده بندی بیا

« عبدالحمید مهمند »

وزی تېزی بروت بخېل پوز کی بنه ئې .    نه په تخت دپاسه ناست دبل کره

دمنت پولاو دي زهرشه ! کې مو مې :    دمحنت سوی مکړك له سا کښ سره

« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته په سر کوز د همت نه کا    چه په داد ددهر بوه آزاده مرد وی

« اشرف خان هجری »

دافقیر دو لت په مر ګمې هسې هوس کا    لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته

زینهار حلت په هسی ساعت ور کړه    چه دنیا وریانې نه وی و کفن ته

« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره لېری    لاس له کار وباره وباسه که کار کړې

« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا دهوی ترې قربان شه    باد شاهان دشام دروم که دختن وی

ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی    چه مشغول دځپل وجود په شکستن وی

« عبدالقادر خټك »

۱۷ _ انسانیت :

پوې اصل سره دوه او یا مذ هبه    خدای په څه بنی آدم فریق فرېښ ـو

« خوشحال خټك »

خلق نادیده دي په خبر و پسې تللي
جار تر عار قانو چه په حال دي پوهيدلي

دوه او يا مذهبه پکښې هو مره قيل وقال
واړه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي

د پردي کتابو نه مشتمل په د پرش حرفونه
کل واړه که گوري له الفه دي تحوولي

سل بهي سل سبه چه يې مات په يوه ځاي کړي
سل به بلل نه شي سره يو دي ماليدلي

واړه نور نمر دي هم دننه هم د بانديي
هر چېرته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي

زه خوشحال خټک يم د رندانو په مذهب کښې
نور ويل مې نزده مختصر مي دي ويلي

« خوشحال خټک »

ب : بابيزه خويونه

١ ـ بدعادات :

عادت لا ډېر شي عادت له سري نه ځي
خداي دي نه کاندي په بد چار عادت څوك

« عبدالرحمان مهمند »

همېشه وي نرم چوب غذا د کرم
شيدا مشه مرد خالي له سياسته

« کاظم خان شيدا »

ستر گي به موږي دخس له نامردانو
كه همه لكه اېري آتش نسب وي

« کاظم خان شيدا »

٢ ـ بې پته خويونه :

يو چه د پر خوري سو گندو نه
بل چه د پر کاندي پو رو نه

آشنائي ور سره کمېږه
دا بې پته دي خويونه

« خوشحال خټک »

٣ ـ کوزتيا :

تر هر څه بد کږي خطر دي !
کږې به نه کا چه دانشور دي

الف چه سم شي کږې پسې نښته
ځکه تر نورو حروفو سر دي

« عبدالقادر خټک »

٤ ـ بدنيتي :

چه د بل په نامرادي کښې مرادغواړي
دا سبب گڼه د خپلې نامرادي

« عبدالحميد مهمند »

٥ ـ بدگوئي :

چواړي د حلال خور په نامه بولي
له ښو خلقو بدگوئي ندده ممکنه

ته چه بد له خلقو واي زه و ډېر ېږم
چې ري خپله بدي نكري معينه

له هغو نه په رومبي ستا عيب خرگند شي
چه هر چا و ته دي کړېده خندنه

« عبدالرحمان مهمند »

مه پر چا غيبت تهمت وا يه مه نيوله
مه د بد نامه په هيڅ بني آدم زده

« دولت لواني »

٦ ــ بېکاری :

د جمله بلاؤ سرتن اسانۍ ده
فراغت د بېغمۍ په ملت کښ شته

لټ غوبی شی خرڅاوه په قصا ! نو
خه امید د بېغمۍ کړی طالبانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ــ ډېر احتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږی

زه له ډېرې هوښیاری نه لېونی شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ــ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی
چه کله د اشی کله هغه شی

یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
دا نا ته کله مذبذبین ښه دی
« خوشحال خټک »

٩ ــ شخصیات :

دزړه غلا په زړه کښ غم ده
هر سردار چه په زړه غل شی

لا په تېر ه د سردار
ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټک »

١٠ ــ ظلم :

بازچه وینی د ځیگر خوری مرگ یې زروی
که تر خه دی هم شراب د قهر نعره

له دې وینو ځان ساته زما ځیگره !
ظلم وجور په چا مکړه ځیگر وره
« عبدالقادر خټک »

چه بېهوشی د ډېره گیره پسې نرېلی
ماشی مړ کاندې هاتی چه سره تول شی
لږې لږې او به تولېږی ملک وران کا

ډېر په ظلم کښ څوک مه کوه گبر گوره
په یوه وجود یې کښ مه گېره ډېر گوره
په لږ جبر چېرې نه شي دلبر گوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرگس شاهین چرږه تری په هوا شول
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانگی

چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق
خدای کړ پورته ا دې باغه د مالدار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نکا چاته وازی د آزار خولې
په گړ کښ بخته برج هسی میدان کړی
د یوې خولې له آواره وو پېر پېږه
چه پېرې راشی د مظلوم د آه سېلی
چه قوصر د آه سر دور باندې لگی
چه اثر د مسیحا لری یې دم کښ
ورځ به شی د غم شپه پهغه خلقو

دغه خولې ده په آزار کښ دښا مار خولې
یا تو بو بدی خولې دی یا دو یام خولې
که یې پر دې دعا کا ندې هزار خولې
کاله خاورو ایرو ډکی د مدار خولې
ور به نشی د هغه چا د ېېر هار خولې
خوږ و ی دې هغه خلق بنگ فتار خولې
چه یباب بی بد دعا که هر سحار خولې
« عبدالحمید مهمند »

چه داغی يې سپين بشر په اور د ظلم    په لاس مه شه باز پرور د ظلمانو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی    هم آزار دی پيغمبر د ظلمانو
چه نهال د ظلم کښېږدی ځنې لاړ شی    تر ويخ تر زهرو شی ثمر د ظلمانو
آزادی که دې پکار ده شمس الدينه !    له مجلسه کړه حذر د ظلمانو
« شمس الدين کاکړ »

هسې خوښ د ظالمۍ په کار ولاړ دی    نه به وايي مرګ يې نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »

رسېدلی تر مطلبه په خود نه يې    چه خوړی د د مظلومو د سر وينې
« عبدالله بوبلزی »

١١ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو يه    جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »

همېشه غوټه جبين يې د ك له کينه    له خپلواو کورو کلی مرور يې !
« ملا جمعه »

د جهان کينې غصې واړه تر شا کا    که سړی په‌وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پيدا چه خو د بيني ور ځ غه نشته    د جهان ننداري ځکه دوه ايمه کا
په کينه په حسد هيڅ د چا و نشی    هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

١٢ ـ تعجيل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا    په‌تعجيل سره نادان کاندي‌سم کار کج
« عبدالقادر ختك »

په هنر هنر خبري کړه دلبره    تېزی مه کوه په هيڅ کار کښې د سره
« عبدالله بوبزی »

١٣ ـ حرص :

په غم د نورو و غم ته ساز مه شې    سيك و عالم ته به خپل آو از مه شې
سړی په طمعه د بل بنده شی    د عا به دا کرم اخته په آز مه شې
« خوشحال ختك »

١٤ ـ کبر غرور :

دغه زور به چلوې تر کو مه پوري    چه پوازې دي په ځان تمام جهان خوړ
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را يې    ما دا ستا دېر بواته هله ارمان خوړ
« عبدالحميد مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی    په پليتو اوبو نه کېږی او د س
سبره ! هيڅ به تېتو و نو لو يې مکړه    ستا به هم‌دغه قيمت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر ختك »

۱۵ – بیوفائی :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې … زر که ځکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه … ته و به و کاږه له پلنه د بې وفا
« مرزا حنان »

که یې اوی دزړه به وینو لکه ګل کړي … هم هغه به یې زړه در کاندي شنه تا نده
« عبدالقادر ختټك »

۱۶ – طمع :

څوك چه طمع له چا کا به حقیقت کښې … که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال ختټك »

نه دی نفس لره جلب د ورکو لو … امو ختنه در باندي غل او کا سېر مشه
نور قیدونه و اړه سهل دي حمیده ! … خو به غاړه دي د طمع زنځير مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شي د حق پاتي … چه په خوله کاندي خوږه حلوا د طمع
« عبدالحمیدمهمند »

سړی توب به دي سپېتوب کاندي دا طمع … عزت و سا ته به صبر که دا نا یسي
هسې چاري به حرص در باندي و کا … چه په هېچا شوي نه وی پنا به وا یسي
« عبدالحمید مهمند »

کهدي زړه وی چه بېلای شي طمعه پرېږده ! … څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یسي
« عبدالقادر ختټك »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی … یاس له مخلوقه د حق انعام دی
اصیل بنده کا خلاص شو ی بند کا … طمعه له خلقو د خلقو دا م دی
« عبدالقادر ختټك »

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع … دسپی توب نامه حاصل کا به دا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی … خاشاکی ګوره نه کوی له دریا طمع
د هغه د شرم بوزه به مخ نه وی … چه کوی د نس د پاره له چا طمع
لکه څوك لوبی به خپله حیا کا ندي … هسې ما و نه ښکار پېژنی دا ستا طمع
لکه یو سپی چه هېچرې ځټی اسل هغسي … هسې ده د یو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه د ه بنو نېبه اسي … چه به دا زبېره له چا کا ندي بیا طمع
تل دخواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې … محمدی چه څوك کا بل ته پیدا طمع
د حاتم د سخاوت خبري مه مکړه … لا پیدا کښې هم د طمعی نشانی ده
« خوشحال ختټك »

۱۷ – ریا :

دریا عمل مې طوق شو را تېر غاړه … لکه خپور شی به ځیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸ ــ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

تور مخونه د دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
« مطیع الله پیرخیل »

## ج: نصایح

دا همه د نا پوهی پیدا کیږی
پیر ځو، شه سلوك، نمانځنه، اوبل عدل
کبر جن حریص بی زده چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو شتنې
که طالع یی ددولت په شربت ډك کا

چه دخلقو نیکخواهی اری په زړه کښې
که بی غوږ د دانشمند په صیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تلی نشی
مختورن د دواړو کونو ندی خه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو
په هغه هنر کښي تینګ او سه خوشحاله

په دوستانو تلطف کړه خو په تاشی
د نمانځه تر قضا ګران دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني
چه په تشه تواضع کښي ګټه کیږی
که حاتم غوندي کرم کړي د مهرانو
خو بدانو سره بدشی هومره ښه دي
که دي سرځی کهدي مال ځی کهدي نورځه
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دي درمری په خوله کښي ور کا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښي

خپل استاد و ماته ووي خو پند ونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکړه
که دي زړه وی چه بدنه موي له چا نه

خو خشي دعوي نا ساري شر و شور
که دي دا خوي و نه شته خه غواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلو ر
هوښیار سړی به نه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال ختك»

مبارك شه بادشاهی اری به زړه کښي
شه عجبه آګاهی اری په زړه کښي
هر سړی چه تباهی اری په زړه کښي
که دسعی کوتاهی اری په زړه کښي
چه هر چا سره سپاهی اری په زړه کښي
ګمراهان به ګمراهی اری په زړه کښي
هر هنر چه سپاهی اری په زړه کښي
«خوشحال ختك»

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمړی په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډیر لری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی راحت
که دمرګ و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښي مه پرېږده همت
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال ختك»

هر یو پسندی مرغلري دی لا لونه!
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

د شهوت په غوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوک بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نرمي ملایمت کړه!
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئي هر ګوره ښه ده نه دا هومره
هغه کار چه په ورمي تر سره کیږي!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
د هغو په مرګ ثواب ګټلی بویه
که دښمن دي ډېر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطي مه کړه
عاقبت به خپل ورغوي په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشي بري يې مه ږده
په خپلوانو باندي هومره خشم مه کړه!
د پادشاه په مهربانه غلط مه شه!
پادشاهان چه په چا مخ کا د بدي
په هغې معشوقي څه باور د کړو دی
د بېلې پانې خوره نه هغه پاستي
د بد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښي چه دي پېښ شي بېړه مه کړه
په رښتیا که په دروغ وي سوګند مه خوره
د حرص سترګې مړې په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډېر چه عمل نه کړي
د ښه دین د پاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښي که مردان دي هم هغه دي
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیري در ځني پریکا
که دي ورور وي که دي ځوی وي چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وي
چه په کالو وي مشران ته یې حرمت کړه
په هغه کور کښي چه ښځه چرګه بانګ کړي
هرچه شرع فرمائي په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډک شي و دښمن ته

پیدا اور د ډېرو سوي دي کورونه
د ازل په ورځ مقسوم دي قسمتونه
په بدي کښي څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پرېږدي مالونه
ګنډي وي چه پداخیل کړي د چازړونه
د بخچې دننه ښه دي خپل رختونه
چه په باغ کښي دي خربزي وهي خرونه
څه حاجت چه رساوه شي تر جنګونه
چه اري د بدو فعل بد خو یو نه!
چه یې سوځي له شامته غاډي غرونه
په یوه شجري و سوځي ښارونه
د رستم غوندي هم مړه دي په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ور مونه
د مارانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردي ورځني تښتي په ملکونه!
زورور په لږ ګناه وهي سرونه!
و سپینډو وته تړل نه شي بندونه!
چه په هر لوري یاران لري زرګونه
چه بې خوري د نوکري په خوشرطونه
غلیمان ور له بس دي خپل خو یو نه
د ګله پر، و نه خوازه لري ګلونه
په تلوار، سره ورانیږي جوړ کارونه
منافق وي چه ډېر ډېر خوري سوګندونه
چه په کور کښي دي انبار شي نعمتونه
ته حمار یې په تا ایښلي کتابونه
نه پیدا چه پسري لوڅې پردي کورونه
چه و سختي و ته و نیسي لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وي مخونه
چه په لاري تر تا تېر دروي ستاملونه
په خپروي کازه کړه ور مېږونه
د هغو د ناستي تښته په کروهونه!
بیا هغه چه دي په ځای وي لګه ترونه
د هغو خوښو نه ځي برکتونه
مه عمل کوه په رښتیا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه!
لږ و ډېر په زبان مه راوړه عمونه

په هر کار پورې لاس پروی په ځوانی کښې
که طاعت که عبادت که نور کارونه

په ځوانی کښې چه د کار نه لاسه ووزي
په پیری به دی ونه رسی لاسونه

همیشه او سه خو له پته لکه ناوې
چه ضرور شی هاله و کړه دوه حرفونه

تر هغه به نا معقول په جهان څوک وی
چه همیش په خندا سپین لری غاښونه

که خبره کله خدا کړي جنګي جنګي !
هره چار تر حساب مه کوه پیرونه

که دي زړه وی چه پټ عیب دي ښکاره نه شی
چاته مه شماره د خلقو پټ عیبونه

که له تانه په قوت د متو زيات وی
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه

چه تواښېږي د هغې خبري لاف کړه
او که نه په دروغمه وهه لافونه

چه د ښمنو کښې د جنګو خرخشې وی
ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه

که دی واوریدل چه بیا وبیله روغ شول
نور په خپله وسله ووهه لاسونه

چه د ښځونه بتر دی هغه څوک دی !
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !

خدای هغه په دواړه کونه دی نما ښکلی
چه په ورځ کا عدل وداد به شپه نمځونه

چه دزړه په تامین دهغو نازوړه
تل نیاز منو سره وړی دی نیاز و نه

داصیل ښېوه خپل اصل نه ابیاس دی
په زربافو کښې پادم وی پامرۍ و؟ نه

« خوشحال ختک »

په پیری کښې چه هوس دی د ناب کړي
بیهوده ګمان په صبح د مهتاب کړي

داسته ګناه کوي توبه و کاږي
لکه بت هسې په غټو ستر ګو خواب کړي

علم و کړي بې عمل وربانه دي نه کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي

په شپه پروت بی د مغان په میخانه کښې
او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي

له خالقه دي نه شرم نه حجاب وی
له رحمان ګوښه ونیسي حجاب کړي

« عبدالرحمان مهمند »

کوډ ګلو کړه چه سینه د ګلزار شی
اغزی مه کره په پښو کښې به دې لار شی

ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه
چه هم داغشی به ستا په لور ګذار شی

کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښې
چېرې ستا به د کوهی په غاړه لار شی

ته چه هر چاته په خوارو ستر ګو ګوري
لا به و مبی به ستا صورت ترخاور وخوار شی

آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی
هر چه بل آزار وی هغه آزار شی

که نه نه کوی نظر د چا وعیب نه
هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شی

د متان کړیه لوړه مځکه باندی مه کا
سر کوزی کوه چه پټ دي مرغزار شی

د مات لوښی او از کله ثابت خېژی
د هر چاعمل خر ګند په خپل ګفتار شی

واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
حق باطل سره جدا کړه معنی نغاره

مدا ما چه لکه باز غوښې د قام خوری
عاقبت به شي بندی په پښو په غاړه

جوړ وی نوی قصر ونه خبر نه شی
تن صبا دی ابا دی و پنم و یجباړه

فکر و کړه وخت کو تاه دی وی لو یږی
د دنیا پر لاندې پاتې باندی ولاړه !

« د مرزا حنان »

نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا　　　فنا گهبا نه به دا صبح شب تار شی
لنږه ئې مه گڼه هر څو که گناه لنډوی　　　چه لنږ لنږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا ته دی ته ښه ورسره و کړه　　　هر یو نخل چه میوه لری سنگسار شی
تل و ښو و ته آزار د بدو رسی　　　هر چنجی و نرم چوب و ته دو څار شی
هغه زده به له طوفانه بیه امان شی　　　چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شی
خدای دی بدله لاسه نه کا او که وی هم　　　در حمان دی له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا دار ه　　　نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم مه ږده پر عاجز میږی په ظلم　　　نه چه دغه پشه دی و مبتلی له مار ه
هر چه وی صباح بي راوی لنږ که ډیر وی　　　دا چه نن یې پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی　　　چه رانده پدا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرزند بی بختها!　　　که دې مال که دی فرزند دی نا پکار ه
دا جل صبا د طلب د استاد روح کا　　　ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښې　　　دی بهتر له هغه گنجه بې شمار ه
« مرزا حنان »

ډیر به ستا په سبب خواب دراحت و کا　　　که دمهد په شان ورك دخان آرام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه　　　اسا نه ندده د سر ښند نه
مصلحت مه پر ږده د خپله لاسه　　　هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال خټك »

همیشه وائي چه خدای مې پیژندلی په یکی دی　　　که دی خدای وی پیژندلی مینه مکړه په باطله
په خیل حسن غره مه شه که په حسن لکه گل شی　　　زمانه به دی خپره په یو څو ورځې کا زائله
« خوشحال خټك »

د چاوخوان ته خالی کتل مکړه　　　که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور ځی هسی و یل مکړه　　　چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا　　　یا طبیب و تا ته بد ي کا شکري
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي　　　له شکرو به هم گرزي اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی　　　ته یې وایې لکه یې د مور نغري!
« خوشحال خټك »

عاقبت به یې زده ترلاسه کړي حنانه!　　　لکه زلفې دنگار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځان ژغوری بربنډله تېرو تورو          هسې ځېل سرله بېېرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی          په ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی

ور سره مه کښېنه تا به تباه . کا          سپین زر که سپین وی اثر یې توروی

« عبدالقادر خټك »

له همه واړه عالمه صلح کل شه          وښوېدو خوشبویی ور ځکوه ګل شه

تعلق په تېرېد و نی هوس مکړه          په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټك »

څوك چه نرم وېل کا عمل یې ګوره          ټګان دم په خوله وېل کا نرم نرم

« خوشحال خټك »

ښېتن مومل دی          اوس مویر غل دی          هواد د بل دی

غازیانو ګوری، ښېتن مومل دی

توري تېري کړی،          د ښن مو پرېکړی،          منګلی سري کړی،

خله به تښتو          ښېتن مومل دی

که ټینګه کړو زړونه          هر بری یو نه          چه زمری یو نه

اسلام راخخه دی          ښېتن مومل دی

غا زیا نو را شی،          تول شا ؤ خوا شی          دشهاب په ملا شی،

دښن موغوخ کی،          ښېتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب الدین غوری سره ؤ، د غازیانو د تودولو دپاره درجزبه رقم ویلی دی . »

· · · ◆◆◆◆ · · ·

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم باب: پښتو او پښتونوالی

## ۱ـ میړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار — څو پیدا نه کړي کردار
چه دي و ښکنځی مرد نه یې — که له تا نه وي په دار
چه څه دي خو انتقام دی — د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لري نه — چه نه عیب وي نه یې عار
چه عزت و رڅخه نه وي — هغه مرد نه وي په کار
هم مهره لري هم زهر — ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي — تر هغو ځوانانو جار
مرد به غم دخپل هنر کا — نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم — د عزت د اعتبار
نامرد فخر په نسبت کا — مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبري گوره — لعل و در پیېي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه — چه یا د پسېزی په بدلو په سندرو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي — چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد به دا تفاوت وشو — په نامرد، شرم آسان دی په مرد گران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي — که د سروېره دي نه شي کار آسان دی
کاشکي ته به دا دنیا همیشه پاتې — په احتیاط احتیاط کښې ډېر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامې ډېردي — ما به خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی
ننگیالي چه د اخلاص توره په لاس کا — ډېر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریک دي اولسونه — غم یوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دې نه شي باندې پوره — چه مېړو نه د کار زار دی
څوک چه شته تر شرقه غربه — د تورو زنو خدمتگار دی

«خوشحال خټک»

د رست پښتون تر قنده هاره تر اټکه — سره یو د ننگ په کار پټ و آشکار
په داسې وخت، چه وخت د نام وننگ دی — دا بې ننگه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نابوه دي — بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي — که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

میړنو له تښتېدو شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې ماړوه جلب
« یونس »

څه سړی څه یې آند بیبر !
هم هغه شي چه تقدیر
که جهان شي تیر و توره
ستا به مرګ شي خلق خیر
بې تقدیر به و نه مري
نه په توره نه په تیر
بې اجله مرګ نشته
تیغ و هم مکر و تقصیر
لکه کار د مړني دی
هسې کار نه دی د پیر
د غازیانو شهیدانو
پیر و ا نشته د سعیر
کل ګټنه ده د توري
که کابل دی که کشمیر
مړني دي چه یاد پېږي
په سندر و هم په ویر
چه په دروغ د توري لاف کا
د هغو نه یم د لګیر
توره نجره د خوشحال ده
کال په کال خلق خبیر
تر اوو پېړیو پوري
و اوره مړه په تیغ و تیر
دا د ځان ستاینه نه ده
حقیقت وایم په څیر
« خوشحال ختک »

چه په توره یې ځواب ورکړی مردیده
که وجود دی څوك آزار کاندی په چوب
« خوشحال ختک »

چه مین په وسله نه وی
مرد دی نه وائی خپل ځان ته
لاس دی سره کا ستر ګې توري
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال ختک »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال ختک »

د زنانو په حساب دی مردان مشه
چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی
کشمیری چه بغرګ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال ختک »

د بلا ته د اختیار توره په لاس کښې
وقضا و ته تسلیم په شان د مړه یم
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی
به سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم
« خوشحال ختک »

چه جنګیالی وی دولت هغه مومی
چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
دا د واړه تو کسی سره تړلی دی
څوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال ختک »

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی
چه بې ننګی واخلی دلبر هغه مومی
دا کا رمې خوځله په ځان راغلی
له سر چه تیر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال ختک »

ستار قیب کله زما په مخ را تلای شي — د مړو و جنګ ته نه د رومي غو رتي
«مرزا حنان»

چه نری شی میاشت آخره شپه را خیژي — پتوه ځان له عالمه په افلاس کښي
شي ورښمني جامې خوی دار تیڼو دی — دمېړه مړانه نه ځی په کرباس کښي
له یارانو اخلاص تلسلی دی حنا نه ! — ګذران د زمانی شو په لباس کښي
«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه — یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننګه
له میدانه تښته کار دی د زنانو — مر د به نه تښتي له غشي له تفنګه
چه د تورو په بر ښنا یې وار خطا شي — مور یې مه وای په هغه غولا تې انګه
د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا — چه همېش کاندی خوښي له نای وچنګه
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده — مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملي وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی — په هغه چه یې ښېښه د زړه صفا ده
چه عمل یې د نیکی وی مېړه هغه — که اغوستې یې ګډ له د خامتا ده
«احمد شاه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالی دي ورته اېښې دي دوه کاره — یا کام د ننګ حاصل کا یا دووی مینه سپېرېږي
«خوشحال خټک»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحال له ! — که یې نر ویني په ستر ګو هم ماده دی
«خوشحال خټک»

کاشکي ځوان دیښتانه په ننګ کښ مړوی — نه چه ګور لره روان شوم له تلتکه
چه دقام به ننګ کښ وم هغه ځو یه — په عالم کښي دخیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال خټک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی — پښتانه د پر دی په غرو نه په سمو نه
چه ښور وا خوری دمغلو واده سپی دی — د سګانو په څو له څه اخلم نو مو نه
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور وړم — زه خوشحال د زړه دا هو مره املو نه
« خوشحال خټک »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشي — و به نه ساتی څوك خیل ننګ و ناموس
« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شي — په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
د ګلو څو په هوس شپې ر نړو مه — امو خته لکه شبنم په دا شبخون یم
تلخ ویل پر رقیب څو کوي وما ته — آخر زه شمس الدین ننګی لرم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلی له غلمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خواړه کانه آرام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته
د هغه سړی به نه وی احترام
« خوشحال خټك »

نام وننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو
انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله پوپلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځی
حال یې ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره
یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټك »

ننګیالی د ننګ د پاره
په هر څه لګوی اور
سر په باد د سری پر سوزه
چه یی نه وی ژو ندون نور
چه په نام و ننګ اړ نه وی
که تل ژوی مخ ئی تور
د جهان بلا دې کل وی
خو دې نه وی دیې (۱) سپور
« خوشحال خټك »

سر به دار لاك شوی نه دی
نه لاك شوی به پیغور

۳ ــ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی
ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه!
وا به نوړم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم
که پښتون عبدالعظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما څه بی اعتقاد ه عقیده ده
چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه
په ده به نه شی در غلمه سمه
چه یوی ژبه وی یوه خبره
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټك »

٤ ــ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم د پلار له پنده
را ته یې ووې زما فرزنده !
لذت دور کړې تر ساتل ډیر دی
خوی خیر ندی ممسك له خونده
« عبدالقادر خټك »

دلو یې په مقام به هاله کښېنې
که د ور کړې دمړانې په ورځې
«عبدالقادر خټك»

---

(۱) ویې : لفظ ، کلمه.

د خپل ځان دپاره یم درم اسراف دی    چه په بل خونه شندي بی اسرافی ده
« عبدالقادر ختك »

تولول کښېنول دزرو ښځې کاندي    ور کول بازل پی خوی خصلت دنرو
«عبدالقادر ختك»

چه شجاعت کا دنیا په ځکف اری    نوم به دنیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خوړه    هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر ختك »

که څوا نمردی بل آزار مکړه په گلو    ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر ختك»

چه کتل خورول بخښل کا ځوان هغه    چه تو ره لری د توري خان هغه
کان دلعل ودیا فوت وگوهر څه دی    چه احسان تري پیدا کیږی کان هغه
چه ئی ته په کړه وخوري حیطه شی    د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لیچو    چه ئي توان دچا پکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښی    چه د خدای په یادو در ومی آن هغه
چه دخوك دوړاندی روستوځی داخه شی    په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مهوایه خو شحاله !    چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان ختك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن    غګ ئي تللی دي وړی دی تریونان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته    لکه خدای چه پیدا کړیدی افغان
که بهر در ته مرزی شی خوپه کور کښی    له ادبه ځان میر ئی کړی تابه خا ن
دهرچاځای لهچه ور شی بی تکلیفه    کټ بوزی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضوانی »

۵ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را غلم    ماد هسی د ماغ سر ندی زاوری
له اصلی فو لا ده هله تیغ رغیږی    په وار وارچه ځنی لاړ شی و سنیځری
« خوشحال ختك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم    خوار هغه چه ئي له ما سره آهنگ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه زده    چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه ئی ماغزه په قرار ندی    چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو په ځیگر کښی ئي گولی دی    که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښی په لرزه پر یوزی له کته    چه دچا ترغوږ زما د توری شرنگ دی
که په دا د رومی گو ري هغه زه یم    چه مي داغ په خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خیر کړ    ځای په ځای ئي پښتانه وته قلنگ دی
ځنی څه لویه دعوی لرم په زړه کښی    ولي څه کړم چه پښتون واړه بی ننگ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا
دخو شحال دزړه دحال تند اره و کړه

ګټه تېر تر فرېدونه مې فرهنګ دی
که په تخت دپاچه کېښنې هم ملنګ دی
« خوشحال خټک »

چه زما د در وېزې په کچکول تحیر شی

دحاتم په زړه به سهم د سوال پرېووت
« عبد الحمید مهمند »

هسې ر نګه له دې ځا لمه تنها خوښ یم
تر هغه چه خشک طینت د صحرا و ینم
چه شا ړ ه بی له اقبې و زی مګس شی
چه په شان د آفتاب نه ګرم روینه
چه په قید یې د قفس کړم لکه زرکه
که پیدا ر لکه تصویر له خوا به نه شو

چه مد ام لکه وحشی په صحرا خو ښ یم
لکه موج او اوه په دریا خو ښ یم
کله زه د هغه خو ان په صلا خو ښ یم
ستا په سر که په سا یه د هما خو ښ یم
تر دا هسې خند ا زه په ژړا خوښ یم
په دا حال له خپله بخته شیدا ! خو ښ یم
« شیدا خټک »

جهان شرم نام و ننګ دی
چه وفا و رځه نشته
چه یې عشق تر سره کړی
په شا فلیو جهان ارت دی
چه خو شحال با ندې نا ستی کا

که دا نه وی جهان رنګ دی
ګل به څه کړې چه خوشر نګ دی
نور څوك نشته خو پتنګ دی
په غو و لیو با ندی تنګ دی
دا بو زی نه دی او رنګ دی
« خو شحال خټك »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو

په خیل دور واړه و په تېر کړ خپل وار
زه هم نه یم د ګیدړو په قطار
« خوشحال خټك »

د ځا تم غونډ ې مې خپل و حشم نشته
سخا وت مې په تقلید په رسم نه دی
په و ګړ ی مې خبر ې د مر دی شته

په عطا کښې له ځا تمه برابر یم
زه له ځا یه د سخي بابا پسر یم
په همت کښې په هر لوری نامور یم
« خو شحال خټك »

هر چه کاندی نوکری د باد شا ها نو

خا مخا به د دربا نو منت باروړی
« عبد ا لرحمان مهمند »

مطیع الله له موره پلا ره هم سوال مکړه

سل بلا شر منده ګی دی په سوال کښې
« مطیع ا لله پیر خیل »

در و یزه له در و یزه ګرو نا کسی ده
چه رښتینی سیده صاف نه وی حمید ه !

د فلك کچکول ته مه ګوره ، کچکول
بو لی بو لی عا قلا ن دا هسی بو ل
« عبدالحمید مهمند »

هسی فخر شمس الدین کاندی په عشق کښې

لکه فخر کړی پښتو ن په خپل نسب
« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کاچه یې وېره وی یاطمع

خوشحال په داانه دی حق به وایی خوبی سرشته
« خوشحال خټك »

روهي ګلونه (۵۰۲۰) تر سردار محمد : ج : سراج الدین : ر : محمد امین ن : رجب علی : ه ، اخراج پښتو ټولنه ۲۶-۲-۲۷

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library